دهیجان شهادت سلی ساختسیم
تا برمردم گرگی باشید پیام جهان اسلام آشنا گرگرد باشد

چهارصفحه

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۱۷٦) سال نزدهم شماره (۷۳) پنجشنبه (۲۱) سرطان ۱۳۷۵ هـ .ش (۲۵) صفرالمظفر ۱٤۱٦ هـ ق - (۱۱) جولاي ۱۹۹٦ م

دهیواد صدراعظم وروړحکمتیار دیوه مطبوعاتی کنفرانس په ترځ کی :

که طالبان له جګړی لاس وانخلی مونږ مجبوریو چی دکابل په دفاع لاس پوری کړو

کابل - دچنګابښ ۲۰ مه :
دهیواد صدراعظم ورور حکمتیار وویل : که طالبان له جګړي څخه لاس وانه خلي مونږ مجبوريو چي دکابل په دفاع لاس پوري کړو . څکه مونږ غوښتل طالبانو ته د سولي اومذاکراتو دپیل وړاندیزونه ثري دي .
داخبري دهیواد صدراعظم پرون دیوه مطبوعاتي کنفرانس په ترځ کي وکړي .
ورور حکمتیار دنورو اومیدان دولایتونو له خلکو څخه و غوښتل چي طالبانو ته اجازه ورنکړي چي ... دکابل (٤)مخ

الهی لاربنوونی

ای دزندان ملګرو! ستاسی دخوب تعبیر دادی چی له ستاسی څه یو تن خو په خپل رب (دمصرپاچا) ته شراب ورکړی ،پاتی شو دوهم ،نوهغه به په دار وځړول شی اومرغان به یی سر په ټونګو ټونګوخوری ،هغه خبره فیصله شوه چی تاسی یی پوښتنه کوله ،بیا له هغو نه چی دچا په باب یا ګرمان و چی هغه به خوشی کړای شی هغه ته یوسف علیه السلام وویل چی : د خپل رب (دمصرپاچا) ته زما یادونه وکړه ، د خوشیطان هغه داسی په غفلت کی وغورځاو چی هغه خپل رب (دمصرپاچا) ته دهغه وریادول هیر کړل اویوسف علیه السلام ډیرکلونه په زندان کی پاتی شو.

(یـــــــوســــف ،٤۱-٤۲)

دافغانستان دنوی اسلامی حکومت دکړنلاری متن :

خپل مظلوم ولس به له روانو دردوونکو ستونزو ژغورو

جګړه په مدار ، مدار خپل ځای دسولی بهیر ته پریږدی په جګړی دټینګار منطق خپل پلویان له لاسه ورکوی

دافغانستان اسلامی دولت به شورایی نظام لری چی منتخب رئیس به یی دملی یووالی رمز اودهیواد د اجرائیه قوی رئیس وی

په اسلامی دولت کی دټولو قوانینو ،مقرراتو ،مناهجو اوسیاستونو یواځینی مرجع اسلامی شریعت دی

مونږ ته له کمونستي رژیم نه یوه ناسالمه اود هیواد له حالاتو سره نامتناسبه اداره راپاتي ده د هغی اصلاح ، مامورینو ته دکافی معاشونو ورکول اودمفسدو اوخاینو مامورینو مجازات مهم ضرورت دی

له اسلامی هیوادو مخصوصاً پاکستان ، ایران ، سعودی عربستان او ټولو هغو ملکونو سره چی زمونږ دجهادیی ملاتړ کړی ددوستانه اړیکو لازیات ټینګښت غواړو.

ټول افغانان دواحد ملت غړی دی ، اسلامی حکومت به ورته په سیاسی ،اجتماعی اواقتصادی لحاظه یوشان شرایط برابروی اودهر راز تعصب اوتبعیض جرړی به باسی .

دهیواد دخپلواکی ،ځمکني بشپړتیا اوملی حاکمیت نه ددفاع لپاره مکلف یوچي منظم اسلامي پوځ جوړ کړو

زه خپل مومن ولس ته بلنه ورکوم چی دمخدره او نشه یی موادو په خلاف په پراخ جهاد کی لـه حکومت سره لاس یوکړی

دبانک نوټونو، له بی دریغه چاپولو اوغیرقانونی چاپولو به مخه نیوله کیږی

دښځی سقوط دټولنی دسقوط مقدمه ده - که ښځه دایمان اوعلم په وسله سنباله شوه په خپله غیږ کی به دتاریخ ستر ستر قهرمانان روزی

مجاهدین هرات درزودترین فرصت انتقام جنرال علاوالدین راخواهند ګرفت

مشهد - ۲۰ سرطان :
تائید خبرشهادت جنرال علاؤالدین خان ازطرف نماینده تورن اسمعیل خان درمشهد باعث عکس العمل شدید مجاهدین هرات نسبت به ګروه طالبان شده است .

ص(٤)

صدام حسین رئیس جمهور عراق ازیك حمله قاتلانه جان به سلامت برد

کویت - ۲۰ سرطان :
صدام حسین رئیس جمهور عراق ازیك توطئه سوء قصد جان به سلامت برد .
طبق ګزارش منابع خبري بین المللي این مطلب را رئیس اسبق دستګاه استخباراتي عراق طي نطقي در لندن فاش ساخته است . وي ګفته است که افرادي که دراین توطئه مشارکت داشتند ص(٤)

په لوګراومیدان کی دطالبانو خپل منځی جګړه پیل شوی

دوه قوماندانان تورګل اوتاج الدین دیاتیک په سرسره ونښتل

لوګر - دچنګابښ ۱۰ مه ،
وروسته لـه دي چـي د طالبانو ولي دکابل دنیولو پـه طمعه شوي جګړي بایلودي اوس دِدغي ولي ولیکو ترمینځ خپل مینځي جګړي پیل شوي دي .
دباوري منابعو پـه حواله ویل کیږي چي : په دي وروستیو دوو ورځو موده (٤)مخ

د زړینور دکمپ مهاجرینو دیوی ځانګړی غونډی په ترځ کی :

طالبان که ربښتیا ددین طالبان وی دجګړی پرځای دی دمذاکراتو لار غوره کړی

دهیواد رئیس ، صدراعظم ،استاد «سیاف» اواحمد شاه «مسعود» هلی ځلی دستاینی وردی

وانه - دچنګابښ ۲۰ مه :
دهیواد د صدراعظم پـه توګه دورورحکمتیار دټاکنې او هـمداراز پـه هیواد کي دسولي اوامنیت دپروسي اوددي پروسي دپرمختګ پـه پلوي په هیواد اودهیواد نـه بهر دمهاجرینو په کمپونوکي دیرله پسي غونډو لړي روانه ده .
له وانه څخه شهادت تـه په رارسیدلو رپوټونو کي ویل کیږي چي دوه ورځ دچنګابښ په ۱۹ مـه پـه وانه کي میشته دزړینوردکمپ مهاجرینو یوه ځانګړي غونډي وکړه .
غونډه چي دقران عظیم الشان دځومبارکو آیتونو په تلاوت پیل شوه په پیل کي قومي مشرسلطانشاه داودزي ، (٤)مخ

درا ثرراکت طالبان چهارتن شهید شدند

کابل - ۲۰ سرطان :
شهرکابل باردیګر هدف حملات راکتي ګروه طالبان قرارګرفت طبق ګزارش هاي رسیده دراثر اصابت راکت وګلوله سلاح هاي ثقیله طالبان برمناطق مسکوني غرب کابل حداقل ٤ تن شهید و ۲ تن دیګر مجروح ګردیده است .

ص(٤)

ګروه طالبان پیروسیاست نظامی ګرانه بوده ودرانزوای سیاسی قرارګرفته اند

مشکل افغانستان توسط طالبان حل نمی شود جناح های نیرومند ومطرح دیګری وجود دارد

روزنامه جمهوری اسلامی ایران

تهران -
ګروه طالبان پیروسیاست نظامي ګرانه درافغانستان بوده و صریحاً اعلان مي دارند که حامي وطرفدارجنګ مي باشند .
این ګونه سیاست غیر انعطاف پذیر ګروه طالبان نه تنها درګذشته بـه شکست مواجه شده بلکه درآینده محتوم به شکست وناکامي خواهدبود .
روزنامه « جمهوري اسلامي » چاپ ایران ضمن تذکر مطالب فوق نګاشته است مشکل افغانستان توسط طالبان که بیشتر از سیزده ولایت این کشور رادرکنترول خود دارند قابل حل وفصل ص(٤)

ګزارش روزنامه « پامیر» چاپ پشاور :

صدراعظم جدید کشور ، حکم تخلیه ومصادره آنعده منازل مسکونی ودفاتر دولتی راصادر نمود که از طرف افراد غیر قانوني تصرف شده بود

کابل - ۲۰ سرطان :
روزنامه « پامیر » چـاپ پشاور درشماره دیروزي خود بـه نقل ازشاهدان عیني اینکه ازکابل عازم پشاور شده اند، ګزارش مي دهد کـه با آغاز کارکابینه جدید وآغاز فعالیت هاي عملي حکومت بریاست حکمتیار صدراعظم افغانستان ، شهریان کابل از آن اقدامات استقبال مي کنند . ازجمله حکم تخلیه منازل شخصي ودفاتردولتي کـه طي تشکیل جلسه شوراي وزیران تحت ریاست صدراعظم جدید افغانستان صادرشده ، مورد تائید وقدرداني مردم بخصوص شهریان کابل قرارګرفته است .
شاهدان عیني مي ګویند مردم ازحکومت جدیدکشورمیخواستندتا افرادي را مجازات نماید کـه منازل شخصي ودفاترحکومتي را ویران وباغارت مي کنند. خانه هاوموسسات دولتي اینکه ویران و باخساره مند شده درباره ص(٤)

هدف ازکنفرانس واشنګتن تحمیل شاه سابق برملت افغانستان بوده است

اینطرح باعکس العمل جدی نیروهای جهادی وسایرګروه های افغان مواجه شد

کابل - ۲۰ سرطان :
کنفرانس واشنګتن که علیه مجاهدین و دولت اسلامي افغانستان طرح ریزي وسازماندهي شده بـود هیچګونه نتیجه ومؤثریتي نداشته است .
روزنامه جمهوري اسلامي چاپ تهران درتازه ترین شماره اش بـه نقل از محمداسحق نماینده انجنیر احمدشاه «مسعود» عضو شوراي عالي دولت اسلامي افغانستان که دراین اواخر جهت شرکت درکنفرانس مجلس استماعیه سناي امریکا وارد واشنګتن شده بود ګزارش مي دهد که دراین کنفرانس مداخله برخي کشورهاي خارجي درامور داخلي افغانستان مطرح ومورد بررسي قرارګرفت.
محمداسحق راجع به تشکیل کنفرانس واشنګتن توضیح داد که هدف ازکنفرانس ص(٤)

وضع ناګوار فعلی پیش ازآنکه مولود اختلاف دولت اسلامی وطالبان باشد ، متاثر از بی تفاوتی بیطرف هاست

مولوي صاحب خالص و اتحاد جمعیت وحزب

درسرمقاله مطالعه بفرمائید

دشکردری اوچهاردهی دولسوالیو استازو دهیواد دصدراعظم ورورحکمتیار سره وکتل

کابل - دچنګابښ ۲۰ مه :
دشکردري د ولسوالي استازو دهیواد له صدراعظم ورور حکمتیار سره وکتل. ددغي کتني پـه ترځ کي دنوموړي ولسوالي داوسیدونکو استازو په هیواد کي دسولي دټینګښت پـه لاره کي دهیوادصدراعظم ته دهرډول دنهو داجرا چمتوالي څرګندکړ .
وروسته دهیواد صدراعظم داسلامي انقلاب پـه بریالیتوب کي د نوموړي ولسوالي د مسلمانو اوسیدونکو دقربانیو (٤)مخ

دهیواد صدراعظم ورورحکمتیار په داسی حال کی چي دافغانستان داسلامی دولت جمهوررئیس استاد رباني هم حاضر دی دکابینی دغړیو دتحلیف مراسم ترسره کوي.

شهادت
ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان
بیانگرعقاید وآرمانهای حزب اسلامی افغانستان
صاحب امتیاز: حزب اسلامی افغانستان
موسس : انجنیرحکمتیار
ناشر : ریاست ارشادوفرهنگ
سرمحرر: محمد نذیر«بشارت»
تحت نظر هیئت تحریر
تلیفون : ۲۵۶۳۷۸۹
آدرس پستی : ۱۰۳۶ یونیورستی تاون -پشاور

سمت وزش باد معلوم است !

چرابرخی قیادتهای جهادی حالا دربرابر مسئله اتحاد وتفاهم بی تفاوتی نشان میدهند ؟

تادیروزیکعده مخالفین جهاد بـه این بهانه تنظیم هارا زیرباد انتقاد میگرفتند کـه این تنظیم ها گویا متحد نمیشوند وبخاطر تصاحب کرسی اقتدار باهم جنگ ونزاع مینمایند . شب وروز حرف شان این بودکه سران تنظیم هاي جهادي درفکرمردم افغانستان واخص شهریان کابل نیستند .

امالمروزکه بین دوتنظیم اصلي ومادرجهاد توافق تاریخي بعمل آمدوجنگ واختلاف الحمدلله به اخوت وهمکاري مبدل شد این مخالفین بازهم ازپاني نشتند .

حتي تنظیم هاوقیادتهاي محترم جهادي ما مثل مولوي صاحب محمدنبي، مولوي صاحب خالص وبعضي اوقات هم جناب مجددي صاحب وگیلاني صاحب وبعضي برادران دیگري که درسالهاي اخیر بنام «تحریکي ها» شهرت یافته اند غالب وقت ها حرف شان این بود که اگرحزب وجمعیت باهم اختلاف نکنند وباهم اتفاق نمایند، دیگرهیچ مانع عمده بي درمیان نیست که اتحاد سراسري مجاهدین حاصل بیاید و دنیاگل وگلزار میشود. رهبران یاد شده اگرگاهي سفري بکابل ویاچهارآسیاب میکردند حرف اتحاد حزب وجمعیت اولین حرف شان بود.

لطف برادران ومجاهداني که درین تنظیم ها ،سابقه تحریکي ویا اخواني گري داشتند ازهمه بیشتر بود. این برادران فیصله اتصال وهمکاري دایمي شانرا با جمعیت ویاباحزب ، به این دلیل معطل گذاشته بودند که مي گفتند تاشاهد مقصود دربغل نیاید واتحاد وتفاهم کلي حزب و جمعیت حاصل نشود، آنها باهیچ یك ، یکي نمیشوند ودرسفره اختلاف زانونمي زنند .

چند روزپیش ازمولوي صاحب خالص مصاحبه اي درمطبوعات نقل شده بودکه ایشان گفته بودند وي تصمیم ندارد باتفاهم حزب وجمعیت بپیوندد ودردولت شرکت نماید. خالص صاحب یادآورشده بودند ، به این خاطردردولت شرکت نمیکند که « وي طرفدارحل مسئله افغانستان ازطریق تنظیمي نیست وحل تنظیمي نمیتواند حلال مشکلات باشد».

اینکه خالص صاحب میگویند افغانستان ازطریق تنظیمي واز طریق اشتراك دریك دولـت تنظیمي حل نمیشود یك حرف خیلي تازه است وچنان معلوم میشود که این فیصله پس ازکنفرانس واشنگتن ایجاد شده باشد، زیرا درین کنفرانس مسئله تنظیم منتفي شـده واز افراد شامل بدون هیچ محور وملاکي دعوت بعمل آمده بود .

قابل ذکراست که تنظیم مولوي خالص باراول که تشکیل دولت اسلامي مجاهدین افغانستان درهجرت ساخته شدو حکومت مدینة الحجاج راولپندي که (۲۱ حوت ۱۳۶۷) رویکارآمد؛ مولویصاحب خالص وزیر داخله این دولت بود .

وهمینطور در٤ حوت ۱۳۷۱ که معاهده گورنرهاوس پشاور رویکارآمد مقام وزارت داخله بازبه تنظیم مولوي صاحب خالص تفویض گردیده بود .

تایك زماني مولوي صاحب خالص و دیگررهبراني که حالا درحال بي تفاوتي بسرمیبرند ، علمبرداران اتحاد مجاهدین بودند، اما حالا از بیان ایشان وبرخي دیگر ازمسئولین تنظیم هاي شان برمي آیدکه آنها اگرحتي وفرضاً تمام تنظیم هاي جهادي باهم اتحاد کنند، بازهم راضي نخواهند بود بلکه دربرابرآن اتحاد مخالفت خواهند کرد .

اینکه چرا برخي قیادتها و تنظیم هاي محترم جهادي ،حالا دربرابر سوال تفاهم واتحاد مجاهدین کم مهري نشان میدهند؛ چندان محتاج توضیح نیست. همه میدانند که تفاهم جمعیت وحزب انعکاس عمیق داشته وحساسیت بسیاري حلقه هارا تحریك کرده است .

سمت وزش باد معلوم است همه مراجع غربي وبیروني تقریباً همگام وهمصدا ازمجاهدین، ازبنیادگراهاتشویش دارند و همه درپي تعقیب وتهدید جهادي هاهستند ودرین برنامه ملیونها دالر بمصرف میرسانند ؛ گـروه طالبان را به همین خاطربوجود آورده ودرمخاصمت بامجاهدین وتنظیم هاي جهادي تحریك وتشجیع نموده اند . و حالا آنعده دوستان و برادران جهـادي، که برخلاف شعارهاي قبلي موضع گرفته واتحاد مجاهدین و حکومت جهاد را حلال مشکلات نمیدانند، واضح است که تحت تاثیر همین جریان واقع شده اند .

درهرحال ،حالا غیرازاینکه براي صحت یابي . عاجل برخي برادران جهادي دعانمائیم وبراي بهبود آنها ازمصیبت بي تفاوتي کارنمائیم چاره دگر وجود ندارد . گروه هاي مذکور اگرچه کدام تحرك نظامي ندارند ولي موضعگیري آنها به علت اینکه صاحب و جاهت جهادي وتنظیمي هستند دراوضاع سیاسي کشورتاثیري دارد که نمیتوان آنرا نادیده انگاشت ، بسیاري به این اعتقاد اند که محاذ آرایي دولت اسلامي وطالبان دربرابر هم ، تنها عامل وضع ناگوار فعلي است ،بیشتر ناگواري هاومصیبت ها حالانکه ازموضعگیري تنظیم هاوحلقه هاي اسلامي بي تفاوت وبیطرف عرض اندام نموده است . برادر حکمتیار صدراعظم کشور دریك بیانیه اخیرعین مطلب را یادآورشده وگفته بودند : اگربرخي تنظیم هابه حکومت مجاهدین ویاحزب وجمعیت نمي پیوندند، پیوستن وقرارگرفتن آنها درپهلوي طالبان بهتر ازآن است که درحال بي تفاوتي وبیطرفي بسربیرند .

باید درپي کسب رضایت گروه هاي جهادي باشیم ولي این کارنباید مانع ومزاحم کارهاي عاجل وحیاتي شودکه في الحال بخاطراستحکام دولت وارضاي توقعات ونیازهاي اولیه مردم کشور، ماسئول ومتعهد به انجام آن هستیم .

نامهء سرگشاده به محضر صدراعظم کشور

حامد

برادر حکمت یار، السّلام علیکم!

مصروفیت قابل درك متزاید شما بحیث صدراعظم جدید کشور و فقـدان وسائل ازین جانب، بنده را برآن داشت تـا نکاتی چند را از طریق روزنامهء شهادت بحضور شما معروض دارم.

منظور از نگارش این نامه، حکمت آموختن به لقمان نیست، زیرا لقمان خود حکیم است؛ و شخص شما کـه برسبیل تواضع تخلص «حکمت یار» را برای خود برگزیده اید. درحالیکه علاوه بر دوستان مستبصر، دشمنان منصف نیز ازین فراتر میروند.

برادر حکمت یارا!

طوریکه میدانید از لحاظ روانشناسی، جستجو، شناختن، و تمجـید، تکریم و تعظیم انسانان متعالی برجسته و به تعبیر عام قهرمانان و به اصطلاح جدید سوپرمن یا ابر انسان، یکی از نیازهای روانی انسانی، برای ادامهء زندگی بشمار میرود .

ملت مسلمان افغان همچون کافهء امت مسلمه و بالاتر از آن همچو تمامی بشریت، ملت معتقد به ابر انسان، سوپر من یا قهرمان است. هرگاه این ملت مسلمان را در گسترهء تاریخ بشری مورد مطالعه میدهند، درمییابند که خـود ابر ملت، سوپر ناسیون یا ملت قهرمان مسلمان بوده است.

بهمانگونه‌که وجود فرد متعالی، ویرا در اجتماع کوچك و بزرگ منسوب به، بیك قهرمان مبدل میسازد. و فـور قهرمانان در یك ملت، آن ملت را در میان سائر ملل بلتی قهرمان مبدل میسازد. مجسم گردانیدن، تجسیم یـا جسمیت بخشیدن بمعانی مجرد را از اساسیترین اصول روانشناسی بشر، میشمارند.

مسلمین، آزادگان و بردگان جهان که در آرزوی مبارز، مقاوم، شجاع، ایثارگر، فداکار و صامد بودن و احیاء خاطرات ژاندارك، سپارتاکوس و صدر اسلام بسر میبردند، مبـارزه، مقاومت، شجاعت، ایثار، صمود و احیاء تاریخ صدر اسلام را در سیمای ملت مسلمان افغان متبلور دیدند. باینگونه بود کـه در دههء هشتاد قرن بیست میلادی، ملـت مسلمان افغان در سطح مسلمین، آزادگان و بردگان منتظر ظهور منجی، بیك ملـت قهرمان مبدل گردید.

وقتی بخود ملـت مسلمان افغان مراجعه میکنیم، در مییابیم که این ملت مسلمان در عین حالی که خود در میان جهانیان تاج و دیهیم قهرمانی را بسر دارد، خود قهرمانانی دارد و باین قهرمانان مفتخرانه، میبالد.

برادر حکمت یارا!

مداحی متملقین کـه ارزشی ندارد، دشمنان افغان و اسلام نیز نمیتوانند ازین واقعیت انکار کنند کـه در دوران جهاد علیه قوای متجاوز اجنبی و کمونزم بین الملل، شما در رأس لست قهرمانان ملت مسلمان افغان، امت مسلمه، آزادگان و بردگان دربند قرار داشتید. بیجهت نبود که نام شما همواره در محابس، شکنجه گاهها و قتلگاههای آزادیخواهان مسلم و حتی غیر مسلم جهـان، بعنوان منجی یاد میشد. هر گاه یأس به اوج خود میرسید، از میان افراد دربند، کسی با اشاره بنام یا تصویر شما بیاران دربند مژده میداد که: «میرسد مردی که زنجیر غلامان بشکند.»

در شـرق، از جـزائـر قناری واقع در اقیانوس اطلس شمالی تا غرب، در جزیرهء میندانائو واقع در اقیانوس کبیر شمالی، در شمال از اردوگاههای کار اجباری مجمع الجزائر گولاگ واقع در شمالیترین نقطهء اتحاد شوروی تا قریهء سوروتو واقع در افریقای جنوبی، از شما بعنوان یك ناجی قهرمان یاد میشد.

اینکه، عملکرد شما تا چه حدی در جهت تحقق آمال و آرزوهای آنان در حرکت بوده یا نبوده، درین رابطه تاریخ قضاوت خواهد کرد.

برادر حکمت یارا!

کـسانی که بصف شما پیوسته بودند، علی الخصوص آنانیکه قبل از دوران وفور نعمات یعنی در دوران طاقتفرسای ابتلاء، آزمایش، تحمل شدائد و مشقات به پیروی از شما مبادرت ورزیدند، هدف شان استقرار یك نظام اصیل اسلامی در مرحلهء اول در افغانستان، و سپس پیروزی انقلاب جهانی اسلام بود. عـدهء زیادی در آرزوی وصول باین هدف، بـه شهادت رسیدند، عده ای معلول گردیدند؛ عده ای مفقود الاثر شدند؛ و بالآخره عده ای این سعادت را بدست آوردند تا بروز چهارشنبه ششم سرطان شاهد ورود تاریخی شما به کابل باشند. ورود شما به کابل یکی از مراحل و منازل مسیر وصول به آن هدف متعالی بشمار میرود. ذات منان و رحمن را بینهایت سپاس که این سعادت را نصیب این بندهء عاجز خود نیز گردانید.

اینك شـما در کابل قـرار دارید؛ نه بعنوان یك تبعهء عادی این کشور، بلکه بعنوان صدراعظم افغانستان یعنی رئیس حکومت و قوای اجرائیهء این کشور.

برادر حکمت یارا!

میتوان ایـن ادعـاء را کـه شما محبوبترین رهبر جامعهء افغانی هستید، متنازع فیه خوانده و مورد مناقشه قرار داد. اما، آنچه را کـه در مورد شما هیچ وجدان سالم، ذهن آگاه، دشمن منصف، منتقد یا منقد مستبصر نمیتواند انکار کند اینست که مردم کشور ما نسبت بشما بعنوان یك رهـبر مدبر، مدبر، مبتکر، منضبط، سازمانده و دارای پشتکار و توانایی نجات ملـت مظلوم و کشور مصیبتزده، مـا ازین فاجعهء تراژیك، اعتماد راسخ و اطمینان ثابتی دارند.

موافق و مخالف شما، درمورد شما، بر چند نکته، توافق دارند از جمله اینکه حکمت یار رهبری جدی، با دیسپلین، قوی، شجاع، ایثارگر و دارای استعداد شگرف شکستن بن بستها است.

اعتماد و اطمینان همواره یکی از نخستین و اصلیترین عوامل قدرت، صلابت و سطوت حزب اسلامی افغانستان بشمار میرفته است. امـا، امروز وضع وخیمتر ازآنست کـه در مخیله گنجیده باشد. امروز، خواسته یا نخواسته، همان اعتماد و اطمینان مردم، به امید مبدل شده است.

اعتماد و اطمینان قبلی، فاجعه ایکه در چهار سـال گذشته گریبانگیر ملت ما بوده است، میان مردم مظلوم کشور ما و بالخصوص شهروندان کابل، نسبت بشما امیدهایی بوجود آورده است.

در کابل شما موافقین و نیز مخالفینی دارید. اما، علاوه بر موافقین، اکثریت مخالفین منصف شما نیز، در روی زمین، پس از خداوند متعال، بشما امید بسته اند. ملت ما نه به ظاهر خان امیدی دارد، و نه به صلحبانان کلاه آبی دلخوش کرده اند؛ نه منتظر ورود قوای سریع العمل ایالات متحده هستند و نه توقع دارند که از کرهء مریخ کسی برای نجات این ملت و کشور فرود آید. بزرگانی چون استاد ربانی، استاد سیاف و علی الخصوص انجنیر مسعود که تلاش خستگی ناپذیر و صادقانهء آنانرا تاریخ کشور ما فراموش نخواهد کرد، بربن واقعیت واقف و مذعن اند که ملت ما چه امیدهایی بشما بسته است.

برادر حکمت یارا!

نگذارید که امید ملت مظلوم مسلمان ما به یأس مبدل گردد. شکست شما صرفاً «شکست حکمت یار» نخواهد بود و ایکاش اینگونه بود! شکست شما، فاجعهء بزرگتری از شکست یك قهرمان ثبت تاریخ ما خواهد ساخت. شکست شما نه تنها خیانت به امید ملت ما بشمار میرود که فراتر از آن، تکدرخت امید موجود در کویر یأس را نیز خواهد خشکانید. شاید شما ابائی نداشته باشید که شکست دیگری بنامتان ثبت شود. ولی، مصیبت درینجاست که شکست شما، به خشکیدن آخرین تکدرخت امید در قلب حزین ملت ما، نینجامد. فراموش نکرده ام که در طول دوران جهاد، شما همواره با صلابت و امیدواری از پیروزی ما بر قوای متجاوز اجنبی و کمونزم بین الملل یاد میکردید و همواره در پاسخ به یأس آفرینیهای رهبران آماتور و ساخت خارج، بر امثال قرآنی و تاریخ جهاد امت اسلامی منجمله تاریخ مملوء از مبارزات آزادیخواهی و کـفر ستیزی ملت مسلمان افغان یاد میکردید و خطاب به آنان میگفتید: «ملت ما را مأیوس نسازید. از ملتهای مأیوس کاری برنیامده و قطعاً تن به اسارت خواهند داد.»

حتماً میدانید که آنچه امروز مانع از سقوط ملت ما به ویل یأس شده است، امید به این رحمت الهی است که برای نجات آنان از جانب خودش «ولی» و «نصیر»ی بفرستد. بیایید درین آرزو و دعاء با ملت مظلوم ما شریك باشید که این «ولی» و «نصیر» شما باشید.

در رابطه با تشکیل حکومت بنده نمیتوانم عرضی داشته باشم، چون نه به بنده ربط دارد و نه درین رابطه تجربه ای دارم. آنچه میخواهم از طریق این سطور به استحضار صدراعظم محترم کشور برسانم اینست که در ایامی به کابل آمدید که مدتها قبل از آنکه چشمهء اشك زنان و دختران بخشکد، اشك وگـریهء زن ارزش خود را از دست داده بود، و بگفتهء بزرگی برای معرفی یك جامعه، مرده چه مثالی بالاتر ازینکه گفته شود در فلان جامعه، اشك زن نیز ارزشی ندارد. دختران و زنان، مدتها پس از آنکه اشکشان ارزش خود را در افغانستان از دست داده بود، نیز اشك میریختند. زیرا این تنها عکس العمل در برابر مظالمی بود کـه بر آنان روا داشته میشد. یارای فریـاد مدتها قبل، از آنان مسلوب گردیده بود. بزرگ دیگری میگوید «وقتی مرد میگرید، شیطان میخندد!»

برادرحکمت یارا!

شما بیاد دارید که ملت مسلمان در جهاد علیه قوای متجاوز اجنبی و کمونیزم بین الملل، هـرگـز در برابر درندگان کمونست، اشکی بـر چشم جاری‌ساخته بود. اما، در طـول چهار سال گذشته، مردان ملت ما نیز همچون کودکان مادر مرده شیون و گریه سردادند، ولی دل سختتر از سنگ ظالمان، برحم نیامد. درین دوره سقوط ارزشها آنچنان سرعت غیر قابل مهاری یافته بود، که زن نه تنها از طریق گدایی و گریه، که از طریق تن فروشی نیز نتوانست شکم کودکشرا سیر کند. چندین زن خود و فرزندانرا از شدت گرسنگی، به آتش کشیدند. خانواده های افغان مشهور بودند باینکه میخواهند فرزندان زیادی داشته باشند. ولی درین دوره، پدران افغان فرزندان خود را بخاطر سد جوع بفروش رسانیدند.

برادر حکمت یارا!

بیاد دارم روز ورود به کابل گفتید «برای حکومت نه، بلکه برای خدمت بمردم آمده ام.» میدانید که در شرائطی به کابل آمده اید که حتی گریه و آبروی مرد و حتی زن ارزششرا از دست داده است. وقتی گفتید «به کابل آمده ام، تا سرنوشت خود را با سرنوشت مردم کابل گره زده باشم.» باورکنید که این جمله، شما از دیدگان قیامت صغری دیده، مردم، نوعی درخشش بوجود آورد. ایـن درخشش محصول رطوبتی بود کـه در چشمه، خشکیده اشك دیدگانها بوجود آمده بود. در کابل در اواخر ماه حوت، شاخه های درختان به شگوفه مینشینند ولی شما در ششم سرطان وقتی گفتید «میخواهم در زندگی و مرگ با مردم کابل شریك باشم!» مردم آهنگ دیپك تانسین را فراموش کردند. زیرا، ابتبار این جملات با صدای دلنشین شما باعث شد تـا شاخه های خشکیده، تکدرخت امید قلب حزین ملت ما به شگوفه بنشینند. در سخنانتان از تشکیل نظام و ایجـاد صف مرصوص دربرابر دشمنان ملـت و کشور ما نوید دادید. شما میدانید از افراد گرسته ، تشنه، برهنه و بیسر پناه نمیتوان نظامی تشکیل داد؛ و اگر بالفرض تشکیل شود، در برابر دسائس دشمنان افغـان و اسلام، یارای پایداری نخواهد داشـت . صف مرصوص را نیز نمیتوان از ابریشم نقسان و چاپلوسان تشکیل داد. مردم ما میپرسند که چرا عده ای جاه طلب و چوکیخواه در اطراف دفاتر رئیس دولت و رئیس حکومت میچرخند و مانع رسیدگی اولیاء امور بمسائل و معضلات حاد میشوند. مردم ما میپرسند که آیا گنجانیدن این تن پروران در ادارات متورم دولتی، باعث شده است تا اولیاء امور «تشکیل ادارات فعال» را نسبت به رسیدگی بـه امر اعاده، صلح، استقرار امنیت، تأمین مایحتاج اولیه همچون غذا، آب، مسکن، درمان و وسائل حمل و نقل، در اولویت قرار دهند! شکی نیست که عدم ارائهء پاسخ روشن و عاری از ابهام به اینگونه سؤالات منطقی، میتواند اعتماد مردم را نسبت به اولیاء امور و علی الخصوص صدراعظم کشور خدشه دارسازد. مسئله ایکه بلا تنازع در اولویت قـرار دارد، مشکل گرسنگی مردمـست. در شرائطی که بخش عظیمی از مردم کابل حتی استطاعت خرید نان خشك را ندارند، شاهد تدویر ضیافتهای خیلی مجلل در سطح دولتی هستیم. ضیافت مجللی که بتاریخ چهاردهم سرطان در پروان هوتل از جانب ریاست امنیت ترتیب یافت، یاد ضیافتهای مشابه در اروپا را در ذهن کمرنگ میسازد. این تناقض، اجحاف و ظلم آشکار را چه گونه و چه کسی میتواند توجیه کند! اطفال شیر خوار در کابل از گرسنگی میمیرند و آنگاه ریاست امنیت، چنین ضیافت مجللی ترتیب میدهد. جالب اینست کـه درین ضیافت کسانی هـم شرکت میکنند که عمری دم از«حسینی» بـودن زده و علیه یزید شعارداده اند. هیچ فـرد مطلع از تاریخ نمیتواند بپذیرد که یزید چنین ضیافتهایی ترتیب داده باشد. برای مردم ما مایهء امیدواری بیشتر خواهد بود تـا از طریق این نامهء سر گشاده مطلع شوند که حکمت یار مخالفت شدید شانرا با ترتیب چنین ضیافتها بصورت معلن ابراز کرده اند. همچنان برای مردم مظلوم کابل مایهء امیدواری بیشتر خواهد بود کـه مطلع میشوند که حکمت یار چند روز قبل گفته اند: چه ظلمی بالاتر ازینکه مردم ما آب آشامیدنی صحی در اختیار ندارند، ولی در ضیافتهای دولتی نوشابه هـای خارجی علی الخصوص نوشابه هـای دارای قطی فلزی پیپسی کولا صرف میشود.

میگویند هیچ تازیانه‌ای باندازهء فقر بدن جامعه را نمیرنجاند. اما در افغانستان و کابل امروز، هیولایی سر برآورده است که مسلماً زادهء فقر و جنگ است، ولی بمراتب مهلکتر از فقـر، ایـن هیولا عبارتست از خوف و احساس ناامنی. حتماً مشاهده کرده اید که اکثر اهالی کابل بدلیل ابتلاء به سوء تغذیه، همچون افراد معتاد به مواد مخدره بالخصوص هیروئین و ماریجوانا بنظر میرسند. در کابل و درین فصل تابستان، از ساعت پنج عصر به بعد کمتر دکانی را میتوان باز یافت. قبل ازینکه آذان نماز عصر بگوش برسد، کوچه و سرکهای شهر، منظرهء شهر ارواح و مردگان را بخود میگیرد.

برادر حکمت یارا!

مردم انتظار دارند که شما بتوانید بزودی زود درین رابطه، اقدام دارای اثرات فوری و گسترده بعمل آورید. البته بر کسی پوشیده نیست کـه فقر امروز، محصول چهار سال یا بیست سال گذشته نبوده، بلکه ریشه در قرنها حاکمیت ظلم و استبداد دارد. این فقر را نمیتوان بیکروزه ریشه کن کرد. اما، برای رفع گرسنگی مردم، میتوان اقلاً نان خشك در اختیار آنان قرار داد.

ضیافتهای پروان هوتل و کاریز میر نشان داد که «خانه، گرگ بی استخوان نیست!»

مسئلهء دگری که اذهان عامه را مشوش گردانیده اینست که بجای تلاش در جهت کاهش قیم سر بفلك کشیده، مایحتاج اولیه، رفع خطر اصابت راکتهای طالبان بر مناطق مسکونی، اعادهء صلح، استقرار امنیت، از تنقیص ادارات دولتی صحبت میشود. بـا علم باینکه ادارات دولتی از نظر تورم اداری در حالت انفجار قرار دارند، محروم گردانیدن عدهء زیادی از کارمندان دولتی که کتلهء بزرگی را در جامعه تشکیل میدهند، چه مفهومی جز سوق مردم بسوی گرسنگی بیشتر میتواند داشته باشد؟ در اخیر باید عرض کرد که با تأمین مایحتاج اولیهء مردم، مردم خود اعم از پیر و جوان بدفع خطر طالبان خواهند پرداخت. از مسئلهء استفادهء طالبان از ستون پنجم در شهر کابل نیز نباید غافل بود. و عرض اخیر اینکه: تجمع چهره های بـزرگ تاریخ معاصر کشور یعنی حکمت یار و سپس استاد ربانی، استاد سیاف و انجنیر مسعود ، باید

صفحه (٤)

سرنوښت دتجارت

میوند

راغلي پـه پسوه نوي خبرگي له مارکیټونو دکارخانوچي راغونډ شول سوداگر دیـوي غونډي لپاره چي بلل کیدله ډیره مهمه په قول ددوي ، ددغي غونډي دبل شویو لپاره تاکل شوي وو شرطونه له هغوشرطونوڅخه یوڅودي په لاندي ډول :

سوداگر باید نه وي کړي تجارت په پیسو او عاید دتنظیم، جبهي ، امارت، پاټك او ....

له پلارپلاره وي سوداگر اویا هم په تیریدو د زماني پسي شروع کړي وي له واره کاره او ورو ورو پـه طبیعي توگه ترلاسه کړي وي پانگه خپله .

راحاضرشول دغي غـونـډي ته دشرطونو مطابق سوداگر او پاهم ددوي استازي اوشروع شوي خبري په موضوع هغه چي بلل کیدله ډیره مهمه زیات نه ؤ شمیرددوي لـه شمیردگوتو، چي لرله هریوه دشپیتوپنځوسوکلونو تجربه اوسابقه دسوداگري .

ځیرل دوي پدغـه غونډه کي خپل شکستونه اوماتي او داچي مـات شول دځیلونو یو حریفانو پـه وړاندي چي راوتل صحني تـه ایله دادري کاله ، بي له تجربي اوسابقي کومي .

دغونډي هغـه زور سوداگـر لاس تیرکړ پخـپله سپینه ږیره او سمه یې کړه شمله خپله وبي ویل په ریږدیدلي آوازچي ښکاریدي له ورایه پکي‌دشکست تخنیي : رحـم دي وکړي الله تعالي زماپر نیکه بزرگوار؛ ده په کلي په کلي توکر په شا گرځاوه اوبخپل پنځوس کلن کاراوبارکي ایله وتوانیدیدي چي خاوند شي دیـوه ووړکي دکانگي ، پلارمي مغفور او مرحوم شروع وکړه لدغه دوکانگي، بوه یې کړه په ځان شپه اوورځ اوپـه قیمت دټول عمرخپل ایله شو دومره چي لـه بهرسره پیداکړي شي تجارتي اړیکي زمانجارت زمادنیکه اوپلار دژوند اوټول عمرهغه قیمت اوبیه ده چي دادي تاسي پـه سترگو خپلو هم سوداگرو لاس تیرکړیتولو پخپلو سپینو لښو او اوږدو ږیرو، اوتازه یې کړي غاړي خپلي اووبي ښوروول سرونه خپل په علامه دتائد اوتوثیق زاړه سوداگر را پورته کړه پوښتنه هغه چـي وه پـه زرونو کي او پولي کـړي یې وو زرونه ددوي دهریوه پوښتنه څه وه داوول ؛

کیږي بـه دري دري تیم کاله چي

حال دویلولایق نه دی

رامیدان تـه شوي ځیني ناپالغه ژنکي خارزاوه‌تجارت ته چي نـه یې لرله څه تجربه او نه هم څـه سابقه . څوك ددوي راوراندي شوي لــه دفترونو، جبهو اوتنظیمونونه،له قوماندانیو او رهبریونه ، هیجانه کاوه دافکر چي ویه توانیدي دوي په میدان دتجارت کي په څ. کاراو اقدام ؛ گـښـل کیدله داسي لکه چي اچولي یسي وي اورتـه هغه لږ اوډیره سرمایه‌خپله .

خو وشول داسي چي موږته نوریه کاردي شرم اوخجالت

مسخرکړل دغونو وارډوپه ډیرلږوخت کي دجهان ټول مارکیټونه دتجارت ، ځمکه ، فضا اودریابونه هم لاندي شول ددوي ترقدمونو! په برمنگم اوتوکیو، دوي او هانکانگ ، کوریا اوجرمن کي جوړاوپراخ کړل دفتراونمایندگي خپلي او پیدایي کـړل‌اړیکي اوتعلق دگټو هیرادونو له واکمنو او دهغوي له نژدي خپلوانو سره او وایبي خیستلي بنگلي اوجایدادونه پـه حساب ددالر اومارك چوپ اوخاموش وو ټول سوداگر اونه پوهیدل دموفقیت پـه راز ددغوبي تجربي اوبي سابقي سـوداگرو باندي ورکه وه لاره له ټولونـه ، نـه یې لرل دویلو څه اولگیاژ مشرسوداگر په خپلو خبرو او شـمیرل یسي برلاسي اوبریالیتوبونه د بي تجربي اوبي سابقي سوداگرو، ختلي وي سترگي رډي روي دغونډي دټولو برخوالو .

وویل مشرسوداگرپرته له شرکتونو، بانکونو، بهرني پانگي اچوني . تجاري مارکیټونه ددو یې ، توکیو هم قبضه کړل دغودسر خولي نووارده تجاراتو او اوس جوړوي شرکتونه هوایي اوراتیسي الوتکي نپوهیږم څوماشینه .

زنگیدل ټـول په تالونو دفکرونو او ووحیران چي څـه وړکشف کړي راز دغه چي‌دوي هـم لاس اوږدکا هغو چمونته چي پـه دریو کالو ورسیدل دجنگ ځپلي وران ویجاړافغانستان چي پولي واحدیې لگیادي نتوځي پرځمکه . قوماندان، سیاستمداران او رهبران معراج ته دتجارت لـه ډیرغور اوسرچ نه پـس وړاندیز وکړ مشر سوداگرچي پریږدي نوره پیشه اوشغل دتجارت اوومني شکست خپل، کمزوري خپله ؛ اوکړي خوشي دامیدان دغونوبوراغلو لوبغاړوته او وپاسي څه وخت دغه تریخ انتظار چي ووینې صحنه اوتماشه هغه چي اخته شي تجارت هم په سرنوشت دخداي خوارکري سیاست .

به زورنه بم مات شوي ښکلیه پورته راته گوره
وتا پـه نـوم بي باره په هنروژلي بم

خپل مظلوم ولس به له روانو دردوونکو ستونزو ژغورو

دافغانستان داسلامي دولت صدراعظم ورووره«حکمتيار» دچنگاښ په (۱۹) مه دنوي حکومت کرنلاراعلان کره - دادي له وعدي سره سم يې بشپړمتن تقديمو

السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته

الحمدلله وکفى وسلام على عباده الذى اصطفى و بعد:

فاعوذبالله من الشيطن الرجيم .

بسم الله الرحمن الرحيم .

إن الحکم الاللّه- امرالاتعبدوا الاایاه ذلك الدين القيم ولکن اکثر الناس لا يعلمون .

تلك الدار الآخرة نجعلها للذين لايريدون علوافى الارض ولافســادا والعاقبة للمتقين .

صدق الله العظيم .

درنو هيوادوالوا

دالله د دين سرتيرو سپاهيانو !

ورونو او خويندوا

زمونږگران هيواد،پوځل بيا د خپل لرغوني تاريخ يو ډېر حساس پړاوپيل کړی . جګړه په مدار مدار خپل ځای دسولي بهيرته پريږدي، په جګړې داصراراو ټينګار منطق خپل پلويان له لاســه ور کړي اودسولې په کاروان کې ځانته ځای لټوي ،لکه څنګه چې پرون زمونږ مؤمن ملت ،دجګړې په هغه لوی تاريخي ازميښت کې اتلو جنګياليو ته اړتيا درلوده نن دسولې ، روغې جوړې اودهيواد دبيا رغونې اتلانوته ضرورت لري.

دجګړې د کرغېړنوتيابجوته؛ د هيواد ژغورنه؛ او په ملك کې داومن امنيت تأمينول؛ او د سولې په ډګرکې اتلوالي؛ يې له شکه تر جګړې دروند او ګران کار دی؛ او ترجګړې زيات همت اوشهامت غواړي،ډېرکسان جګړه کولی شي خو د هغوکسانو شمير ډېرکم دی چي د سولي او خپرو اترو له لارې د خپل مقدس جهاد د اهدافو د ترلاسه کولو درايت اوحوصله مندي ولري .

ګرانو هيوادوالوا

حقيقت دا دی چي د جګړو په وجه نن زمونږ ملت له ستر و سترو کړاوونو سره مخامخ دی،که په هيواد کې بې امنيتي ده ، لويي لاري خوندي نه دي ، د شر اوفساد ځواکونه د بې وزلو خلکو په سراو مال؛پت او عزت د تيری جرأت کوي؛ ظالمان زړه ور او مظلومان په خوف اوويره کې دي ،فقر لوږه قحطي او قيمتي انتها ته رسيدلی،د واحد افغانســتان د تجزيي له پاره هڅې رواني دي؛ له بهرنه زمونږ په کورنيو چاروکې لاسوهنې کيږي،داسې منظمه اسلامي ملی اردو نلرو چي بهرني مداخلت دفع کړي،او دهيواد د کامل يووالي ساتنه وکړي، د بيلوبيلو مستقلوسياسي اجتماعي او فوځي ځواکونو هغه هڅې شتون کړي چي غواړي د تسلط خپلواکي سيمي ولري مستقل داخلي اوخارجي سياست اعمال کړي، ځانګړې فوځونه ولري او د يوه قوي مرکزي حکومت د جوړيدو مخنيوی وکړي، که مجاهدين ندی توانيدلی سالمه اداره جوړه کړي،اسلامي نظام قايم کړي؛ اجتماعي عدالت تأمين کړي؛ د هيواد د بيارودانئولوله پاره اقدام وکړي مفسد عناصر په خپل ځای کښينوي،د ولس په زخمونو پټی کيږدي او د دوی دردونه دوا کړي،د دې ټولو مصيبتونو اصلي عامل جګړه ده .

ورونو او خويندوا

لاتر اوسه زمونږ د يو نيم ميليون شهداوو لوی ارمان ندی تر سره شوی،زمونږ په هيواد کې هغه اسلامي نظام ندی قايم شوی د کوم له پاره چي زمونږ با ايمانه مجاهدينو د ځوارلس کلنې نابرابرې جګړې ټولې ستونزې او کړاوونه وګالل؛ او خپل سرونه يې د الله په لاره کې د هغه ارمان له پاره نذرانه کړل،دا به لويه اشتباه وي چي څوك يوازې هغې ټولنې ته اسلامي ټولنه ووايي چي واکداران يې مسلمان وي اوشعارونه يې اسلامي . په حقيقت کې اسلامي ټولنه هغه ده چي هلته د الله دين حاکم وي،شريعت نافذ او حدود جاري وي، داسې داومن امنيت تأمين شوی وي چي هيڅوك د چا په سر ، مال اوعزت د تيري جرئت ونشي کړای،حاکم او محکوم د خدای دين ته منقادوي اوشخړې الله او دهغه رسول ته راجع او د شريعت مطابق حل اوفصل شي. واکداران د ولس په خوښه - له جبر زور او تزويرنه پرته د ملت د جرګه بيعت په نتيجه کی وټاکلی شي . د قدرت واګې يې د صالح اومتقي او امين او تر ټولو د غوره کسانو په لاس کې وي، واکداران د ولس باداران نه بلکې خادمان وي، بيت المال وريداغشيمت وته شمېري،بلکي هغه ستر الهي امانت وګڼي، او په هغه کې ناروا تصرف د ځان يا د خپلي ولي په ګټه حرام وګڼي. واکمنان خلك د ځان غلامان ونه ګڼي، او د هغوی په سرمال اوعزت د لويي کولو حق ځانته ونه نکړي، هيڅوك د شرعي محکمي د واضح حکم نه پرته تعقيب، زنداني اومجازات نشي. دجرم په مقابل کې يواځې مجرم مؤاخذه شي، او مجرم ته يواځې هغه جزا ورکړل شي چي شريعت ورته ټاکلې اوشرعي محکمې يې حکم ورکړي، ملت له واکدارانو نه د ټولوتصرفاتو او کړو وړو په هکله د پوښتني اومحاسبي حق ولري، او د ولس فرد فرد د دوی په غلطو او ناروا اجراآتو د اعتراض کولو او دحق څرګندولو له کاملې آزادي نه برخمن وي، د استبداد، اختناق اوتبعيض ټول مظاهرختم او د انســانانو ترمنځ د ژبې رنګ نسب اواجتماعي حيثيت په وجه تفوق او امتياز حرام وګڼلی شي او ټول وګړي د يوه بل ورونه او دشريعت په وړاندې برابروشميرلي شي .

ورونو اوخويندو !

په کومې ټولنې کې چي د بې وزلی اومظلوم حق تر پښولاندې شي، د هغه غږ په سينه کې خفه شي،د هغه په سرمال اوعزت تيری وشي، خو د استفائي له پاره رؤف او زړه سوانده مرجع ونشي موندلی،د زور او د زرخاوندان،د فرد او د اجتماع په حقوقو له څرګندتيري سره سره له مواخذي اونيوني نه خوندي،او واکمنان له دوی نه ويره ولري،او د دوی د ارضا لـه پـاره سياسي اجتماعي او مالي رشوتونو ورکولو ته اړ وي، او چيرته چي د الله دين په کامل طور او د ژوند په ټولو اړخونو کې حاکم نه وي، الهي عدالت او داومن امنيت نه وي تأمين شوی،که څه هم د داسي ټولني زعما او واکداران ځانته مسلمان و وايي او په خپل شخصي ژوند کې په اسلام عمل وکړي، خو دی ټولنې ته په هيڅصورت کې اسلامي ټولنه نشو ويلای .

زما د ايمان او عقيدې ورونوا

راځي چي د يوې واقعي اسلامي ټولني د جوړولو له پاره ملاوتړو،صادقانه تعهد وکړو چي خپل مظلوم اوبې وزلي ولس به له روانو دردونکو ستونزو او کړاونوڅخه ژغورو، جګړه به د تل له پاره پای ته رسوو، تل پاتې داومنه سوله به په خپل جنګ ځپلي هيواد کې تأمينوو،د شر او فساد د ځواکونو په خلاف به د صالح متقي او مؤمنو قوتونو مستحکم اوټينګ صف جوړوو،او دخپل وران ملك د ودانولو لپاره به يوبل ته د ورورۍ او ګډ کار لاس ورکوو،د الله په نامه ژمنه وکړو چي له دی نه و روسته به زمونږرقابت او تنافس،د وسلې په زور د قدرت او امتيازاتو ترلاسه کولو له پاره نه،بلکه خپل دردېدلې ولس ته د خدمت او په هيواد کې د سولې د تأمين په لارکې وي.

درنو وطنوالوا

مافوبنتل چي په يوه غيرمنتخب حکومت کې هيڅکله برخه وانخلم،تل مې وړاندېز داوو چې د ټولو ترمنځ د تفاهم له لارې دې په يوه داسې مؤقت حکومت توافق وشي چي له منل شوو با ايمانه شخصيتونو څخه جوړشوی وي . رهبران په کې برخه وانخلي،د همدې حکومت تر اشراف لاندې؛ د سولې او امنيت په فضا کې په همدې موقتي مودې کې انتخابات ترسره شي، او قدرت يوه منتخب اسلامي حکومت ته انتقال شي،او په دې ترتيب زمونږ په هيواد کې د مسلحو رقابتونو ځای مسالمت آميز سياسي رقابتونه ونيسي، د جګړو ،کودتاګانو او مسلح انقلابونو سلسله د تل له پاره پای ته ورسيږي. لکه څنګه چي خبر ياست د اوږدو خبرو اترو نه وروسته، د جوزا د مباشتي په څلورمې نيټې، پر يوې داسې معاهدې امضاء وشوه چي د هغې په اساس به د مؤقت نظام د دولت رئيس محترم استاد برهان الدين رباني او د عظمی صدارت دنده به ځما په غاړه وي، په موقت حکومت کې به ټولو ډلو ته د شرکت بلنه ورکول کيږي،ګډ فوځ او ګډ امنيتي ځواك به جوړيږي، په دې مودې کې به د مؤقت حکومت تر نظارت لاندې د يومستقل انتخاباتي هيأت په ذريعه، د سولې او امنيت د تأمين په صورت کې انتخابات تر سره کيږي ،او که انتخابات وځنډيدل، نو د مؤقتي مودې په پای کې به قدرت يوه نوي حکومت ته انتقاليږي، په اصل کې مؤقت حکومت د ضرورت په وجه د منتخب اسلامي حکومت له پاره د مقدمې په حيث منل شوی، موږ دا راتلونکی منتخب اسلامي دولت لپاره په لاندې ميثاق توافق کړی :

۱- د افغانستان په اسلامي دولت کې مطلق حاکميت الله لره مختص دی او دقضاياوو دحل اوفصل يواځينی او روښنی مرجع د الله (ج) کتاب او د رسول الله (ص) سنت دی.

۲- په اسلامي افغانســتان کې - يواځې د هغه چا سلطه او واکمنی جايز او قانوني ګڼل کيږي چي:

الف - په ما انزل الله حکم وکړي .

ب - د ولس د اکثريت له تائيد نه برخمن وي او دهغې انتخاباتي عملې له لارې،د ملت د اکثريت په رای انتخاب شوی وي؛ چي اساسي قـانون بـه يې مشخص کوي . هيڅ فرد او وله، حق نلري، د زور له لارې ، د وسلې د استعمال او د داخلي اويابهرني ځواك په اتکاء قدرت ترلاسه او په ولس حکومت وکړي.

۳- د افغانســتان اسلامي دولت به شورايي نظام لري چي منتخب رئيس به يې د ملي يووالي رمز او دهيواد د اجرائيه قوې رئيس وي .

٤- دهيواد د مقرراتو او لوائحو وضع - د دولت د بودجې او خط مشې تصويب او دهغه په اجراآتونظارت د شوری د غړو له صلاحيتونو څخه دي .

٥- په اسلامي دولت کې د ټولو قوانينو، مقرراتو، مناهجواو سياستونو يو اځيني مرجع اسلامي شريعت دی .

٦- د افغانستان په اسلامي دولت کې قضائيه قوه کاملاً مستقله ده چي وظيفه يې د شريعت تنفيذ، د عدالت تأمين او د فرد او اجتماع له حقوقو نه دفاع ده .

٧- قضائيه قوه حق لري چي د هری هغې فيصلې او قرار ابطال اعلان کړي چي د شريعت مخالف وي اويا د وګړو او اجتماع مسلم حقوق تر پښو لاندې کړي - هر فرد او وله کولی شي د داسې فيصلو او پريکړو د ابطال لپاره محاکموته مراجعه وکړي.

٨- د اسلامي دولت ټول اتباع،د هيواد د قوانينو په وړاندې،مساوي او يو شانته حيثيت او اعتبار لري،او له هر راز تبعيض او امتياز نه پرته،له ټولو هغو سياسي او مدني حقوقو او امتيازاتوڅخه برخمن دي،کوم چي بين المللي اعلاميې او پريکړې ئې د وګړو او احزابو لپاره لازمي ګڼي او اسلامي شريعت ئې تائيد وي.

٩- د افغانســتان په اسلامي دولت کې، د هيواد ټولو اتباعوته،هر راز سياسي آزادي د بيان آزادي او دا جتمـاعـاتو د تدوير او د احزابواوټولنو د تشکيل د آزادي په شمول د شريعت په حدود و کې مکفول اومضمون ده، خو هيچاته به ددې اجازه نه ورکول کيږي چي لدې حق نه په استفادې سره د ملي يووالي د تضعيف او د هيواد د استقلال او خپلواکې د تهديد او د افغاني ټولني اسلامي هويت ته د تاوان د رسولو په لارکې ناوړه استفاده وکړي.

۱۰- د افغانســتان اسلامي دولت او دهيواد مؤمن اتباع په کلکه هڅه کوي تر څو د اسلامي جهاد اهداف تحقق ومومي او د ملت جهادي روحيه حفظ او هغې ته مزيد ارتقاء ورکړي،د هيواد د استقلال او خپلواکی نه دفاع په خاطر او د ټولنې د ملي يووالي او د اسلامي هويت د ساتنې لپاره به د افغاني جامعې فرد فرد مکلف وي چي د عسکري خدمت قانوني دوره ترسره کړي .

درنو هيوادوالوا

مؤقت حکومت ته چي د نوموړي معاهدې د تطبيق ترڅنګ کوم ستر ستر فوري وظايف په مخکې دي او پکار ده د خپل لند عمر په موده کې ئې تر سره کړي،کولی شم پـــــدی ډول ئـــی را خلاصه کړم :

۱- د امنيت د تأمين په برخـــه کې :

د جګړې فوري او دائمي خاتمه- په مرکز او اطرافو کې د داومن امنيت تأمين - د لارو پرانيستل - او د دولتي منظمو ځواکونو له خوا په لارو کې د مصئون تګ راتګ شرايط برابرول .

د دې اهـدافو د تحـــقق لپـــاره غواړو چي :

الف- ټولي ولې د سولې لدې بهيرسره يوځای شي ،دا معاهده تائيد کړي او مؤقت حکومت کې عملاًبرخه واخلي.

ب - ګډه داومنه امنيتي قوه جوړه شي، ترڅو د ښارونو او لويو لارو امنيت د همدې قوې په ذريعه تأمين شي.

ج - ښارونه اوکلی له وسله والو ولو څخه تخليه شي.

د - هغو کسانو ته سخته سزا ورکړي شي چي خلك زوروي - ويره او خوف اچوي - شوکې کوي او د بې وزلو خلکو آرام ژوند تهديد وي.

۲- د دفاعي چـارو په برخـــه کې :

د هيواد د خپلواکي - استقلال،ځمکنی بشپړتيا او ملي حاکميت نه د دفاع له پاره مکلف يوچن منظم اسلامي فوځ جوړ کړو، په کارده ملي فوځ؛ د پخوا په شان، د مکلفيت د دوری له لارې جوړشي، او په دې ترتيب د افغان ولس، د هرفرد عسکري روزنه وشي،او له خپل هيواد نه د دفاع په مقدس کار کې برخه واخلي - خو له دې لاري د فوځ جوړول داسې قوي مرکزي حکومت غواړي چي په ټول ملك کې يې تسلط قايم وي؛ او د افرادوجلب اواحضار ورته ممکن وي، حکومت داسې يوې مرحلې ته تر رسيدلو پوري دی ته اړ دی چي محدود فوځ ولري، اوهغه هم د استخدام له لارې او د مناسبو حقوقو او امتيازاتو په بدله کې . په دې هکله د حکومت پالېسي دا ده چي :

الف - د مرکز په شمول به هر ولايت ته د هغه د موقعيت ، نفوس اونظامي اهميت په نظر کې نيولو سره، مناسب قطعات منظورشي .

ب - دا قطعات به په هر ولايت کې د همدې ولايت د جهادي شورا په مشوره،د همـدې ولايت د افرادو نه جوړيږي- د اولويت حق به هغو مجاهدينو ته ورکول کيږي چي دهيواد د آزادي په قيام کې يې مخلصانه برخه اخستی ده .

ج - د دفـاع وزارت بـه د نـومـوړو قطعاتو د اکمال او د پرسونل د روزنې دنده په غاړه لري.

د - د ولاياتو اداري به مکلفې وي چي په لنډه موده کې شرايط داسې برابرکړي چي د جلب او احضارله لارې د فوځ د جوړيدو امکانات ميسرشي .

هـ- فوځ به په سياسي مبارزاتو کې له برخې اخستلو نه ډډه کوي. نظامي افسران به دا حق نلري چي د سياسي ډلو غړيتوب ترلاسه کړي - تيرو ترخو تجربو دا ثابته کړه چي په سياست کې د فوځ مداخله او په تنظيمي روحيې د فوځ د قطعاتو تشکيل، د خونړيو پيښو باعث، د توپ اوټانك په زور په ولس د حکومت کولو اومخالفين مسلحانه مقاومت ته د رابللوسيله ده .

و - مونږ د ولس د بې وسلې کولو طرفدار نه يو - نه غواړو چي دوه وسله له خلکو نه راغونډه شي - دی ته ترجيح ورکوو چي د قانوني سند په مقابل کې، هرڅوك وکولای شي مجاز وسله د ځان ســره وســاتـي -دنـوروملـکـونـو تجربوهمدابنودلې چي دولس په لاس کې دوري وسلې شته والي هيڅکله بې امنيتي نه راولاروي

۳-پـه اداري بـــرخه کې :

مونږ ته له کمونستي رژيم نه يوه کړکيچنه -ناسالمه او د هيواد د حالاتو سره نا متناسبه اداره په ميراث پاتي ده - ددې اداري اصـلاح ،مـحـدودول او د هـيـواد اقتصادي وضعيت سره سم، په هغې کې ژوره تبديلي راوستل، يو اهم او ضروري کاردی - لدې کبله چي د دولت امکانات، هومره محدود دي چي، حتی د مامورينو د معاشاتو د اجراء له پاره څه په لاس کې نه لري، مونږ مجبور يو په محدودو تشکيلاتو اکتـفا وکړو، اواضـافي غـير ضـروري تشکيلات حذف کړو ا وهغو مامورينوته چي د تشکيلاتو د تقليل په وجه وزګار پاته کيږي، د توليدی دندو د ترلاسه کولو شرايط برابرکړو- د مامورينومعاشات بايد هومره وي چي د دوی ورځني حياتي ضرورتونه رفع کړي او رشوت اوخيانت ته اړنه شي .

کار اهل ته سپارل - دخلکو کارونه له هر راز ځند او ناخيرنه پرته او د هر راز سفارش او رشوت د اغيزې نه لېرې په سمه توګه او په خپل وخت ترسره کول - د اداري فساد په کلکه مخنيوی- اود مفسدو اوخاينو مامورينو شديد مجازات- د سالمې اداري لومړني غوښتني دي.

د يوې معتبری درنې مقننه قوې احياء او د مـلـت رای تـه د رجـوع لـه لاری د منتخبي شوری تشکيل او د يوې داسې معتمدی قضائيه قوې جوړول چي د ټولني فـرد فـرد د هغې پريکړوته په درنښت وګوري او د واکمنانو له هر راز اغيزې نه خوندی وي او د ټولنې د ټولو فـردي او اجتمـاعي پيښـو په هکله د وروستي پريکړې صلاحيت او جرأت ولري . زمونږ د حکومت له مهم اهدافو څخه دي.

اجازه نه ورکو چي په دولتي محافلو کې بې ځايه مصرفونه وشي . مونږ به د هرراز اسراف او عياشی مخنيوی کوو . د توجـيـه وړ نه ده چي عـام ولس دی؛ وچه ډوډۍ نشي موندلی، خو د واکدارانو په دسترخوان دی رنګ رنګ طعامونه خپاره وي. بايد په دولتي محافلو کې داسې ســادګي غـوره شـي چي د عـام ولـس د اقتصادي ابترحالت سره متناسب وي .

٤- په اجتمـــاعي برخـــه کې :

اسلام ټول انسانان برابر او د يوه بل وروڼه ګڼي - او هغه ژبنې- قومي او مذهبي تعصبات حرام شميري چي اجتماعي عدالت تهديد کړي او د رنګ - ژبې اومذهب په اساس د چا انساني حقوق تلف کړي.

ټول افغانان او د افغان ولس ټولې پرګنې او اقشار، د واحد ملت غړي دي،چي اسلامي حکومت به دوی ته په سياسي ، اجتماعي او اقتصادي لحاظ، يو شانته شرايط برابروي او د هر راز تعصب او تبعيض جوړې به ياسي .

په اسلام کې مذهب ته تربل هر مسلك نه زيات امتيازات اوحقوق منل شوي،بايد دمذهب ټول اسلامي حقوق احياء اوتضمين شي او د افغانستان په نوی اسلامي ټولنه کې خپل اسلامي رول ترلاسه کړي . اميد دی زمونږ نوی اساسي قانون ،د مذهب د اسلامي حقوقو او اجتماعي فعال رول په هکله واضحه فيصله وکړي، مونږ غواړو مذهبي او تاريخنه خپل اسلامي هويت او شخصيت وساتي او د پردو د سپك تقليد پرځای د يوه مستقل تاريخ جوړونکي قوم د قهرمانو ځامنو په څير نړيوالو ته نمونه او د تقليد وړ شخصيتونه وړاندې کړي.

حقيقت دا دی د مذهبي سقوط، د ټولنې د سقوط مقدمه ده که مذهبه د ايمان او علم په وسلوسنبال شوه؛ په خپلې غيږکې به د تاريخ سترستر قهرمانان روزي.

مونږ د اسلام په چوکات کی د مذهب په آزادي او د جومات او قضائيه قوی په آزادي باور لرو. همدا راز په داسې حال کې چي د احزابو ترمنځ دشخړو او منازعاتو د سوله ايزحل طرفداری کوو ، په احزابو کې د سالم سياسي رقابت اوولس ته د انساني خدماتو په وړاندې کولو اوخپل مرام ، تګلارې ، سياسي او اجتماعي پروګرام ته د ولس د رابللو او د خير په کار کې له يوه بل سره د تنافس خورا مساعد شرايط برابرول غواړو.

د احزابو د سياسي فعاليت د کاملې آزادي طرفداريو - اسلامي سياسي احزاب کولی شي،د قانون سره سم اخبار، مجلې او نور تبليغاتي وسايل ولري . دوی حق لري چي د حکومت په کړو وړو او تصرفاتو نظارت وکړي او خپل اعتراض اوانتقاد ولس ته وړاندې کړي . په هيڅ ډول سياسي اونشراتي فعاليت؛ تر هغه بنديز نشي لګيدی ترڅو چي د چا حق يې نه وي تلف کړی . د چا عزت او کرامت يې تيري نه وي کړی - د رښتيا په ځای يې دروغ نه وي خواره کړي،او دهيواد د ګټو په خلاف او د امنيت د مختل کولو له پاره يې هڅوني او تحريکات نه وي کړي، هيڅ وله حق نلري دولتي تبليغاتي وسايل - راډيو تلويزيون- په خپل انحصار کې او د خاصي ولې په ګټه وڅرخوي، دا وسايل په ټول ملت پوري مربوط دي - واکمن او مخالف احزاب له هغه نه د مساوي استفادې حق لري .

يتيمانو او دشهدا وو کورنيو ته جدي پاملرنه - دجهاد د معلولينو - دوامداره مرسته او د مهاجرينو د بيرته راستنيدو او په خپل ټاټوبي کې د دوی اسکان ته خاصه توجه د دولت د لومړنيو دندو څخه دی .

٥- د زده کړې او روزنې پـــه برخــه کې :

مونږ په ټول جديت سره هڅه کور چي د هيـواد د زده کـړې اوروزنې نظام په سالمې اواســلامي . بڼه کې ډېر ژر فعـــال کړو .

تعليمي نصاب اصلاح او زمونږ د اسلامي ټولنې د نوو مقتضياتو سره سم عيارشي - داسې چي زمونږ د تعليمي مؤسساتو نه د ايمان اوعقيدې په وسله سمبال مؤمن افسران ، داکتران ، انجينران ، دخدای نه ويريدونکي حاکمان او قاضيان او با ايمانه فني او مسلکي پرسونل فارغ شي .

حکومت به خپل طويل المدت تعليمي پلان داسې جوړوي چي د هيواد په ټولو ولاياتو کې د ابتدايي او عالي زده کړې مناسب شرايط برابرشي . د هيواد دننه او بهر د ځوانانو زده کړونکو د سالمې فکري روزنې او ښه تنظيم او د دوی له ځوان ځواك او استعداد نه د اسلامي انقلاب د اهدافو د تحقق په لاره کې ګټه اخستل او د دوی د فکري ودې له پاره داسې مناسب شرايط برابرول چي زمونږ ځوان نسل د راتلونکي اسلامي افغانستان له پاره سالم او مؤمن قيادت اومشرتابه وړاندې کړي، د حکومت د سترو اهدافو څخه د ي.

٦ -د روغتـــيا پـه برخــــه کې :

روغتيا اوصحت ته پاملرنه ترهغه په زړه پوری نتيجه نشي ورکولای او د ناروغيو د خپريدو مخه نشي نيولای تر څو چې د فقر د معالجې له پاره متوازنه هڅه ونشي . فقر د اخلاقي او اجتماعي مفاسد وترڅنګ څنګ د ناروغتيا او رنځ د خپريدلو ستر عامل دی ،د روغتونونو او کتنځيو بيا ودانول، فعالول او د دوا درمل د تسهيلاتو د برابرولو ترڅنګ څنګ، دولت په دې مکلف دی چي د خلکو د اقتصادي ستونزو د حل او دولس د ژوندانه دسطحی د لوړولو په هکله ګامونه واخلي .

٧- د کرهنې پــه برخــی کې :

دځوارلس کلنې جګړې په ترڅ کې، د هيواد کرهني ، بندونو ، نهرونو، کاريزونو اوځنګلونه ته سخته صدمه رسيدلې، او په همدې تناسب مالداری زيانمنه شوی، د هيواد دی اړخ ته جدي پاملرنه د حکومت له مهمو دندو څخه ده . متاسفانه تيرو مفسدو حکومتونو د هيواد د اوبوغني زيرمو، وسيع حاصل خيزو دشتو او د حاصل ور شاړو ځمکوته هيڅ ډول پاملرنه نه ده کړی .

زمونږ د اوبو زياته برخه بهرنيو ملکونو ته درومي - د اوبو د مهارولو اوله هغه نه د شاړو ځمکو د آبادولو په برخه کی هيڅ استفاده نه ده شوی،زمونږ هيواد دکرهنې په برخه کی د ډېرې کمې توجه په نتيجه کې د افغانستان د موجوده نفوس په پرتله څو چنده نفوس ته غله اوميوه وررسولی شي . د هيواد لومړنی ضرورت همدا دی چي د غلې له خوا په خپلو پښو و دريږي، نه يوازې د ا چې د بهرنه دغلې او غوړيو او نورو حيواني محصولاتو له وارد ولو وژغورلی شو؛ بلکه خپلو ګاونډيو هيوادونه يې هم صادر کړو . دې هدف ته د رسيدو ټول امکانات شته ،يه لږ پاملرنه او زحمت سره دا اهداف ترلاسه کيدای شي .

٨- د اقتصادوتجـــارت په برخـــه کې :

زمونږ هيواد د جګړې او د کمونستانو د تسلط نه د مخه له اقتصادي پلوه د دنيا ترټولو وروسته پاتې هيواد وو . د جګړې په نتيجه کې زمونږ محدود اقتصـادی تاسيـــســات هم له منځه ولاړل - د بې امنيتي په وجه تجارت کلکه صدمه وليدله تجارانو او پانګوالو خپلې سرمايې بهرته انتقال کړې .

نن نن زمـونږ نـاداره هيـــواد- لـه اقتـصادي پلوه له سختـو ستـونزو سره مخامخ دی - د جګړې له پيل نه ترنن پوري دولت د بانك نوټونو د چاپولو له لارې خپل مشکلات حل کړي ،په دې سره د افغاني نرخ ورځ په ورځ را ټيټ شوی او په دې تناسب قيمتونه لوړ تللي ، اتلس کاله د مخه د يوې ډوډۍ نرخ (۲) افغانۍ وو خو اوس د هغې بيه تر پنځه سوه افغانيو لوړه شوي . ددی دردونکي حالت نه د هيواد ژغورل دا ايجابوي چې :

الف- د بانك نوټونو د بې دريغه چاپولو نه ډډه او دجعلي نوټونو مخنيوی وشي .

ب- په ملك کې داسې امنيتي شرايط برابرشي چي افغاني تجاران او سرمايداران هيواد ته خپلې پانګې را انتقال کړي؛ او بهرني پانګې اچونکي دې ته تشويق شي چي زمونږ په ملك کې سرمايه ګذاري وکړي. مونږ د اقتصاد په برخې کې په آزاد بازار باورلرو - دولت به بازار اوخصوصي تشبثاتو صرف دومره کنترول لګولی شي چي لـه نا جايزو اوحرامـو تصـرفـاتو ،احتکار، سود ، جعلکاري ، قمار او دوکې نه مخنيوی وشي او پری نږدی چي په ټولنه کې هغه حرامه راکړه ورکړه رايج شي چي د اسلام د اوچتو اخلاقي معيارونومنافي او بازارته د هغه څه د عرضه کيدو باعث شي چي د انسان صحت او روغتيا ته صدمه رسوي ، بايد په شرابو ا ومخدره موادو کلك بنديزولګول شي او ولس ته د مخدره موادو په ځای د معيشت دتامين پټمني اوحلالي لاری په ګوته شي .

زه خپل مومن ولس ته بلنه ورکوم چي د مخدره اونشه يې موادو په خلاف په پراخ جهاد کې د حکومت سره لاس يو کړي .

مونږ له بهرنه د پور د ترلاسه کولو له لارې د دولتي پانګې اچولو په ځای؛ دېته ترجيح ورکوو چي کورني او بهرني پانګه لرونکي دې ته تشويق کړو چي زمونږ په هيواد کې په مشره او عام المنفعه پروژوکې سرمايه ګذاري وکړي ، غواړو چي دولتي تصديو ته يا انتقاغي بڼه ورکړو او يا يې خصوصي سکتورته انتقال کړو؛ په تجارت او سرمايه ګذاري باندې د دولت هر راز انحصار پای ته ورسيږي، او دولتي سرمايه ګذاري يواځې د ثقيله صنايعوپه محدوده کې را خلاصه کړو ! په دې کې شك نشته چي د شوروی اتحاد د زوال او په نوې يو مستقلو جمهوريتونو د هغه د تقسيم په نتيجه کې زمونږ هيواد پو ځل بيا خاص تجارتي او اقتصــــــــادي اهميت ترلاســــه کړيدی .

که مونږ په دې موفق شو چي ډېر ژر په ملك کې امنيت تأمين کړو او د نوو لارو په پرانستلو سره د مرکزي آسيا نوی جمهوريتونه د افغانستان له لارې له نورې نړۍ سره وصل شول ،زمونږ هيواد له دې نه د اقتصاد ی ودې په لارکې په زړه پوري ګټه اوچتولی شي .

د نفت ،ګاز او نورو معدنونو د اکتشاف او استخراج او د صنايعو د تأسيس په ساحه کې سرمايه ګذاري ته،په لومړۍ درجه کې اهميت ورکوو،خو دا لازمه ګڼو چي لومړی دې نفت او ګاز په نازله بيه د هيواد والو د استفادې له پاره عرضه شي او بيا دې بهرته د صادرولو لاری ولټولی شي.

۹- د بهرنی سيـاست په برخـــه کې :

په بهرنی سياست کې هم په اسلامي اصولو ولاړ- فعال اوموثر سياست غوره کول غـواړو- له حق نه دفاع ، د مظلوم مرسته ، د تيری او تجاوز غندنه، د نړۍ ټول وګړي د يوې ستری کورنۍ غړی ګڼل او د ټولو هيوادونوترمنځ د ښو اړيکو ټينګول ، له اسلامي ملکونو سره د دوستۍ او ورورولي تر ټولو ښه روابط ساتل، په نړۍ کې د جګړې ، تجاوز اوتيری خاتمه ، د سولې اواجتماعي عدالت تامين او ولسونو ته د خپلي عقيدې اوملي مصالحو په رڼاکې د خپل سرنوشت د ټاکلو او دخپلې خوښې سياسي نظام د غوره کولو حق ورکول، د استکباری ځواکونو له خوا په مظلومو- بې وزلو ولسونو باندې د پرديو خوښې د حکومتونو په کلکه غندنه ،د نورو په کورنيو چاروکې عدم مداخله او د دوی استقلال، آزادي ، او ارضي تماميت ته په درنښت کتل او د بين المللي ستونزو په سوله ايز حل تاکيد کول، زمونږ دبهرني سياست اساسي اواصلي کرښې جوړوي .

مونږ له اسلامي هيوادو مخصوصا پاکستان ، ايران - او سعودی عربستان او ټولو هغوملکونو سره چي زمونږ د اسلامي جهاد ملاتړ يې کړی، زمونږ ، مهاجرينوته يې پناه ورکړی، زمونږ په هيواد کې يې د جګړې د پای ته رسيدو او د سولې د اعادې په لارکې مرسته کړی،ددوستانه اړيکو لا زيات ټينګښت غواړو .

د بين المللي سازمانونو څخه غوښتنو کې په افغانستان کې يوه فعال او مؤثر غړي په حيث د خپل اسلامي رول اداکولو هڅه کوي - داسې چي بين المللي سازمانونه ، د سترو ځواکونو د اغيزې نه آزاد او د بين المللي شخړو په آوارولو ، د جګړو په پای ته رسولو او د بډای او ناداره ملکونو ترمنځ د ژوري فاصلې په راکمولو کې ؛ مؤثر نقش ترسره کړي او دنړيوالو د يوه نوي عادلانه نظام په وړاندې کولو موفق شي .

متأسفانه نن د نړۍ ټولې جګړې په اسلامي ملکونو کی ؛ د مسلمانانو په خلاف روانی دی - ددی جګړو په ترڅ کې په اروپا، افريقا او آسياکی مسلمان مری ، د مسلمان کور ورانيږي ، مسلمان هجرت ته مجبوريږي او دهغه په ملك کی دجګړې لمبې او چنې دی اسـلامي هيـوادونـه د صنعتي ملکونو د وسلو د خرڅلاو او دمصنوعاتو د عرضې په مارکيټ بدل شوي ، په اسلامي هيوادونو کی د جګړو ، عدم استقرار او سياسي تشنج ستره وجه همدا ده .

له دې دردونکې حالت نه د امت د ژغورنې له پاره مونږ د اسلامي هيواد ونو د نژدېوالي او د اسلامي نړۍ د مزيد يووالي طرفدار يو .

بايد په بين المللي پېښو او مخصوصا هلته چي پريوه مسلمان هيواد تيری کيږی او د اسلامي امت ګټې تهديديږي ، ټول اسلامي هيوادونه واحد - قاطع اوفعال دريځ غوره کړي، مونږ د کشمير د آزادۍ د تحريك، سياسي او اخلاقي ملاتړ کووا و په دی تاکيد کوو چي د کشمير ولس ته دخپل سرنوشت دټاکلو حق ورکړل شي او په هغه ملك کې دی د بې وزله کشميريانو په خلاف د تشـــدد او خشونت سلسله بنده شي .

(٤)مخ

شهادت

ارگان مرکزی حزب اسلامی افغانستان

نمبرمسلسل (۱۱۷٦) سال نزدهم پنجشنبه (۲۱) سرطان ۱۳۷۵

قیمت یك شماره (۵۰۰) افغانی (۳روپیه)

احکام دین خود رابیاموزیم

ترتیب کامل نماز خواندن

تشهد خواندن (۲)

اگرنماز چهار رکعتي باشد بعد از خواندن التحیات ،براي رکعت سوم تکبیر گفته وراست ایستاده گردد وبهمان ترتیب بسم الله کرده سوره فاتحه رابخواند. اگرسنت ونفل میخواند در رکعت سوم وچهارم بعد ازسوره فاتحه کدام سوره و یابعضی آیات قرآن مجید را هم بخواند و اگر فرض را میخواند ، در رکعت سوم وچهارم فقط سوره فاتحه کفایت میکند و در رکعت چهارم بعد از هر دوسجده در قعده نشسته و «التحیات»را خوانده و بعد از آن درود شریف بخواند. .

نبوی لارښوونی

له حضرت ابوهریرة «رض» نه روایت دی چی آنحضرت «ص» فرمایلی دی : څوك چی سهار یا ماښام دلمانځه له پاره جومات ته ځی ، الله تعالی ورته دسهار یا ماښام په بدله کی په جنت کی میلمستیا تیاروی ، دغه راز په یوبل روایت کی حضرت ابوهریرة «رض» فرمایی چی آنحضرت «ص» فرمایلی دی : څوك چی په کورکی اودس وکړی اوبیا جوماتونوکی یو جومات ته (په امامت سره) دفرض لمانځه داداکولو له پاره روان شی ، نوهغه چی څومرهٔ قدمونه اخلی ، په یوقدم به یی گناهونه معاف کیږی اوپه بل قدم به یی درجه اوچتیږی .

(بخاری -مسلم)

شهریان کابل بادلگرمی نشرات روزنامه شهادت را مطالعه مینمایند

شهریان عزیز کابل ازمراکز فروش روزنامه ها ، روزنامه شهادت را بدست می آورند.

دمبارکی پیغامونه

دهیواد دنوي صدراعظم په توگه دورور حکمتیار دټاکنې له امله دشهادت اداري ته دمبارکي پیغامونه رارسیدلي.

دحزب اسلامي دښوونې او روزنې ریاست دنوموړي ریاست اداري آمریت ، دزده کړې عمومي مدیریت ددیني مدارسو عمومي آمریت، استادانو، زده کوونکو ، دحضرت قیس (رض) دلیسې مدیریت استادانو اوزده کوونکو ،دامام اعظم (رح) دمدرسې استادانو ، معلمینو او طالب العلمانو ، دامام عظم (رح) ددارالحفاظ ځانگې استادانو اوکارکوونکو ، دسیدجمال الدین افغاني لیسې استادانو، کارکوونکو اوزده کوونکو په جلوزوکې دثقافت اسلامي دلیسې مدیریت استادانو اوزده کوونکو ، دحضرت قیس (رض) دگرمسیرو دوي دکورسونو استادانو اوزده کوونکو ،په جلوزوکې د شهادت نماینده عبدالرحمن «جواد »، همداراز د لغمان ولایت دسرخکانو دامنیتي غند مسئولینو محمدطاهر «جهادیار» ، د لسوڅستیلك آمرمحمدطاهرخان،دغندقوماندان عبدالاحد اختنزاده ، دغندرئیس ارکان مجاهد محمد صفدرخان ، میرحمزه خان، حمداتورخان، دخیبر ایجنسی له لنډیکوتل څخه حاجي محمدگلاب شینواري، رمضان شینواري ، حاجي حیات گل شینواري ، رسول خان شینواري ، حاجي عجب نور شینواري ، اختیارگل شینواري خانگل شینواري ، محمود شینواري، معروف خان شینواري ، انورخان شینواري ، عبدالعزیز شینواري ، حاجي سخي گل شینواري ،دننگرهار ولایت دامنیتي چارو مرستیال سیدالرحمن «ذبیح »، دننگرهاردقیرریزي رئیس عبدالرحمن «شمس » ، د سـره رودله لسوالي څخه الحاج عبدالجبار، دننگرهار ددوهمي حوزي آمر الحاج محمد آصف خان ، دننگرهار دبریښنامرستیال نورحضرت مجددي دسرخرود ولسوالي دامنیي قوماندان سبحان شاه، دننگرهار دتعمیراتو آمر شمس الدین دشهیدآدم خان وړور قوماندان محمدگلاب، قوماندان محمدپویا ،دننگرهار ولایت دجوازتجارت آمر داکتر جواد «شرف زي»، دضربتي غند قوماندان صدیق خان جبارخیل ، دننگرهاردعامي روغتیادریاست مرستیال داکتر عبدالوهاب ، په پیښورکي دشهادت نماینده گل بشر بشرمسل ، دنوي اوي صرافانو او دوکاندارانو همدارازپه سعودي عربستان کي دجامعةالامام محمد بن مسعود الاسلامیه له مرکزڅخه دافغان محصلینو په نمایندگي محمد داود ، دپیښور په دین بهارکالوني کـي د شیخ محمدروحاني دروحاني دټول قوم پـه نمایندگي حاجي دین محمد، میراحمدگل، دافغاني دوکادنارانو دانجمـن او دپیښور ښار دمارکیټونو داستاځو پـه نمایندگي فدامحمد اوسردار محمد لـه نصرت مینې څخه دافغانستان داسلامي پوهنتون ناظم اعلي داکترمحمدقسیم «رشیدي» ،دپوهنتون دپوهنځیو محصلینو په نمایندگي «التقوا دتعلیمي اوتربیوي حوزې ټولو منسوبینو ، دجلوزو دکمپ دمهاجرینو په نمایندگي قوماندان داکـتر محمد صادق «عصمت » ، انجنیر نوررحمن « جازب » ، مدیرسیف الرحمن اکبري ، الحاج اکرم خان ، قوماندان حاجي افضل، انجنیر ،آغامحمد، قوماندان حاجي گل، قوماندان عبدالمتین ، مولوي عبدالسلام ، الحاج داکترگل حبیب ، داکترعبدالحق «فرقانیار».

همداراز دبامیانو دجهادي شورا غړي تورن غلام محمد ، دکابل ولایت دچارآسیاب ولسوالي علماو، سپین پیرو اوجهادي قوماندانانو، همداراز داسلام آباد دبین المللي اسلامي پوهنتون دمحصلینو دتنظیم کارکوونکو اومحصلینو ، دلاهور دمنصوري دسیدابوالاعلي مودودي (رح) انستیتوت دیني مدرسي اودنورمویي انستیتوت دطالب العلمانوپه نمایندگي هدایت الله خروټي ، دکابل دشیرپور دمتوسطي ښوونځي استادانو اوزده کوونکو ، په کابل کي دافغانستان دمسلمانو ښځوسازمان مسئولینو ، دکابل دبیډل په نوم دساختماني دستگاه انجنیرانو ، مامورینو وروړ حکمتیارته دهیواد دنوي صدراعظم په توگه دلیږلي پورته کولوله امله مبارکي ویلي اوډیپل هرارخیزي ملاترإعلان ئي کړي دي .

په پیغامونو کي دحزب اسلامي اوجمعیت اسلامي ترمنځ تړون ؛ تاریخي تړون گڼل شوي اوله ټولو جهادي ډلواکونوڅخه غوښتنل شوي چي ددي تړون ترشا ودریږي اوخپلې هیڅ ډول همکاري ورڅخه ونه سپموي .

درا ثر راکت طالبان

گزارش مي افزاید که تبادل آتش سلاح ثقیل میان نیروهاي دولتي وگروه طالبان ازشب گذشته تاصبح دیـروز درمناطق ریشخور، گل باغ، دارالامان وچهلستون ادامه داشته که تاکنون ازمیزان خسارات وتلفات آن معلوماتي دردست نیست .

گـروه طـالـبان

نمي باشد زیـرا نیروهاي موثر وسابقه داردیگري وجـود دارند که ازقوت کافي برخوردارپوده وبرپایتخت که محورسیاست است کاملاً حاکم مي باشند .

روزنامه مذکور طي تازه ترین شماره اش مي نویسد کـه رهبران گروه طالبان براي افراد مسلح خویش درجنوب وجنوب غرب کابل دستورآماده باش صادرنموده ونیروهاي تازه نفس وتجهیزات نظامي را به ولایات لوگروميدان شهر اعزام داشته اند .

نیروهاي دولتي همـزمان باتحرکات نظامي گـروه طالبان، بـه تجدید قوا ومستحکم کردن مواضع وسنگرهاي خود پرداخته واعلان داشته اند که توان دفاع ومقابله دربرابر عناصرجـنگ طلـب را دارند .

منبع علاوه مي کند که جبهات جنگ دراطراف کابل ازیکماه بدین سو نسبتاً آرام بوده اما گلوله باران چند روز اخیر گروه طالبان برشهرکابل ،صدها نفر غیر نظامي وبي دفاع رابخاك وخون کشانیده است .

روزنامه خاطرنشان ساخته که بدنبال تشکیل حکومت جدیـد توسط انجنیر حکمتیار صـدراعظم افغانستان ، دولت مذاکراتش باسایر گـروه هاي افغان را تسریع بخشیده واین درحالي است که گروه طالبان با اتخـاذ موقـف جـنگ طلبانه «درانزواي سیاسي قرارگرفته وبعید نیست که باازسرگیري تحرکات نظامي خودرا درصحنه افغانستان مطرح قلمداد نمایند .

صدر اعظم جدید

اعمارگردد، زیرا شهریان کابل درشرایط ضیق اقتصادي کنوني، توان بازسازي مجدد منازل خودرا ندارند .

هم چنان مردم از حکومت جدید مي خواهند که هرچه عاجلتر سیستم شبکه برق بکابل فعال شـود تا مشکلات شهریان کابل ازاین ناحیه مرفوع گردد .

علاوه برآن وسایط نقلیـه شخصي، نظامي ودولتي توسط برخـي ها غصب گردیده ، امیداست درایـن زمینـه نیز ازطرف حکومت اجراآت لازم صورت بگیرد .

گزارش مي افزاید یکي ازپیشنهادات دگرمردم این اسـت حکومت جدید باید ضروریات روزمره واولیه شهریان کابل ازجمله مواد خوراکه ومواد محروقاتي شان را به قیمت ارزان فراهم نماید.

دوه قوماندانان

کي دطالبانو دولي دووتنو قوماندانانو، تورگل او تاج الـدین دلوگرولایت کلنگاردولسوالي پـه مربوطاتو کي دیوه پاټك دکنټرول پرسر په خپلوکي سره ونښتل چي په نتیجه کي دتاج الدین په شمول دري تنه طالبان ووژل شول .

دیوبل خبرله مخي ویل کیږي چي په دي ورووستیو ورځـو کي د میدان دولایت دکوټه اشرو پـه سیمه کي دطالبانودولي ددووتنوقوماندانانو ملابشیراوملا محمدگل دافرادو ترمنځ دپخوانیو اختلافاتو له امله نښتي وشوي چي پـه نتیجه کي دواړولوري پورپل باندي درندي اوسپکي وسلي استعمال کـړي چي ددغونښتوله امله ٦ تنه طالبان مړه اویوزیات شمیر نورئي ددواړولوریو څخه ټپیان شوي دي . ویل کیږي چي ددغو نښتوله امله دطالبانو دوسلو اومهماتویوه لویه ذیرمه هم له مینځه تللي ده .

نـامـه ء سر

کشورما را در برابر تمامی خطرهایی که متوجه وحدت ملی مردم ما ، تمامیت ارضی و حاکمیت ملی است، به صف مرصوصی مبدل سازد. مـردم مـا منتظرند که در زودترین فرصت ممکنه، شاهد تحقق آمال و آرزوهای شان در حکومت حکمـتـیار باشند. البته که این امر ناممکن بنظر میرسد، ولی ملت ما به قهرمانی دل و امید بسته است که در قلع گردانیدن ماشین جنگی پکت وارسا، آزادی اروپای شرقی از سیطره، مترو پولیك کـرملن، فروریزی دیوار برلین، اتحاد مجدد دو آلمان، انهیار امپراطوری شیطانی اتحاد جماهیر شوروی سوسیالستی و به بن بست رسانیدن کمونزم جهانخوار بین الملل، نقش تعیین کننده داشته است.

بامید فرارسیدن لحظه، تحقق این آرزو!

طـالـبان کـه

ملك عبدالخالق ، حاجي تاج گل دبرخوالو په نمایندگي وینا وي وکړي اوبرخوال ئي په هیواد کي دیوه منتخب اسلامي حکومت درامنځ کـیدو پـه لاره کي خپلو مسئولیتونوته متوجه کړل .

ویناوالوله طالبانوڅخه وغوښتل چي که طالبان په رښتیا ددین طالبان وي باید دجگړي پرځاي دمذاکراتو لاره غوره کړي ځکه چي جگړي په هیواد تباهي اوبربادي راولي اوزمونږ هیواد نور ددي توان نلري چي دقدرت غوښتني جگړي پرڅان تحمیل کړي .

ویناوالو دهیواد درئیـس استاد برهان الدین « رباني» ،صدراعظم وړور حکمتیار ،داتحـاد اسـلامي د مشر استاد عبدالرب رسول سیاف اوانجنیر احمدشاه «مسعود » هـلي ځلي وستایلي .

همداراز ویناوالودخپلو ویناوپه ترڅ کي دحزب اسلامي اوجمعیت اسلامي ترمنځ دتاریخي تړون نـه خپل ملاتړإعلان کړ .

دوي وویل موږ دحزب اسلامي اوجمعیت اسلامي ترمنځ دتاریخي تړون درناوي کوو اوله ټولـو جهادي ډلو څخه موغوښتنه داده چـي ددي تـړون ترشا ودریږي .

په پـای کي ویل شوي چي غونډه په آخرکي دبرخوالو په دعاپاي ته ورسید .

مـجـاهـدین هـرات

طبق گزارش هاي رسیده ازمشهد مجاهدین،هرات شهادت جنرال علاوالدین را ازطرف گـروه طالبان عمل ظالمانه وناجوانمردانه تلقي نمـوده وگفته اند که تاگرفتن انتقام شهیـد نامبرده دست ازفعالیت ومبارزه برضد طالبان بر نداشته وان شاء الله بزودترین فرصت انتقام وي راخواهیم گرفت .

کـه طـالـبان

پرښاربانديدي دتوغندبوبریدونه وکړي .

دهیواد صدراعظم داسلامي حکومت داعلان شـوي کـړنلارې دمحتوي او جزئیاتوپه باره کي دژورنالستانو پوښتنوته ځوابونه ووکړل .

سازمان حفظ الصحه جهانی دفاترش رابه کـابـل انـتـقـال میدهد

کابل -

سازمان حفظ الصحه جهاني درنظر دارد دفاترش راازپاکستان به کابل انتقال دهد .

طبق گزارش هاي رسیده ازکابل رئیس این سازمان دردیـدارش بـا محترم پروفیسور برهان الدین رباني رئیس جمهور دولت اسلامي افغانستان ضمن اعلان این خبر ازهمکاري دولت اسلامي افغانستان وکمك هاي انجام شده تشکرکرد .

طبق همین گـزارش سازمان حفظ الصحه جهاني بدنبـال آغازجنـگ هاي شدید درگذشته درکابل دفـاتـرش را به پاکستان بخصوص شهر پشاور منتقل ساخت . اما اکنون دولت اسلامي افغانستان درجهت بازگشت دفاتر این سازمان به کابل تلاش" هاي زیادي انجام داده است که مثمرثمرواقع شده است .

دضرورت وړ مواد و دنشتوالی له امله :

دجلال آباد پـه بیـلا بیلـو کمپـونـو کـی مـاشـومـان پـه ډول ډول ناروغیو اخته شوی

جلال آباد - دچنگاښ ۲۰ مه :

دجلال آباد پـه دننه اوحمداراز دجلال آباد نه بهردمهاجرینو په دریو بیلابیلو کمپونو کي دضروروت وړموادو دنشتوالي له امله په کوچنیانو کي ډول ډول ناروغي لگیدلي دي .

له جلال آباد ښارڅخه دنړیوالي بشري مرستي له خوا په یوه خپاره شوي ریوټ کي ویل شوي دناروغي چي دڅومودي راپدیخوا رامنځ ته شوي بواځیني علت ئي دادي چي مهاجرینو اودهغوي ماشومانوته هغه مواد په کافي اندازه نه رسیږي کـوم چي دوي ورته ورځني اړتیالري .

منبع ویلي داسهال (پیچـش) چي داناروغي اکثره پـه هغوماشومانوکي لگیدلي چي عمرونه ئي لـه (۲) کلونو څخه هم کم دي .

درآتش سوزي پیپل مندوي پشاور (٥) نفر کشته (۳۰) نفر مجروح و (۳۰) دکان حریق شد

پشاور - ۲۰ سرطان :

روزسه شنبه گذشته دراثر آتش سوزي مهلکي درپیپل مندي پشاور حداقل (٥) نفر کشته ، (۳۰) نفر مجروح و (۱۲) دکان به خاکسترمبدل شده است .

طبق گزارش آتش سوزي ساعت پنج وچهل وهشت دقیقه درنتیجه انفجار دریك دکان وسایل آتش بازي اطفال آغازشدکه به سرعت سایر دکان هارا نیز دربرگرفت .

اطفائیه پشاور و سایر عمـلـه نجات نسبت تنگ بودن ساحه به مشکل مصروف فرونشاندن آتش بوده وبعدازگذشت چند ساعت توانستند آتش را خاموش سازند.

مجروحین این واقعه بـه شفاخانه هاي نزدیك درپشاور انتقال داده شدند که حالت بعضي ازآنها وخیم توصیف شده است.

قوماندان پولیس پشاور درصحبت اش باراديوصداي امریکا گفت که آتش سوزي درنتیجه بازي یك طفل باوسایل آتش بازي صورت گرفته است .

هـدف از

ملکور زمینه سازي براي بازگشت مجدد ظاهرشاه به افغانستان بـرده ، اعـضاي مجلس سنا و برخي عناصر طرفـدار شاه سابق، به صحنه آمدن ظاهررا یگانه راه مؤثر براي حل قضیه افغانستان مطرح گردند .

نماینده احمدشاه مسعود درکنفرانس واشنگتن علاوه نمود که این طرح باعکس العمل شدید نمایندگان دولـت اسلامي، شوراي هم آهنگي وتنظیـم هاي جهادي مواجه شده وخاطرنشان گردید که بدن نیروهاي جهادي وگروه هـاي ذیدخل قضیه افغانستان هیچ طـرح خارجي اي درافغانستان عملي نمي باشد .

دشکردری او

یادونه وکړه .

دیوبل خبرله مخي پـرون لـه غرمي مخکي دچهـاردهي دولـسوالي استازو دهیواد صدراعظم سره وکتـل . دکتني په وخت استازو وړور حکمتیار تـه ډاډ ورکړ چي په هیواد کي دسولي دټینگښت په لاره کـي بـه هرډول قربانیوتـه چمتوشي .

وریـې دهـیواد صـدراعظم وړور حکمتیار دچهاردهي دخلکو څخه مننه وکړه اودسولي دبیاده کولو په لاره کي ئي دهغوي په فعال گډون ټینگاروکړ .

نیروي جنگي طالبان

رعنا یاد : ولا رومادی نین پر

ادارهٔ کمك رسانی «انصار» باهمکاری سازمان ملل متحد درخدمت مهاجرین افغان قراردارد

تهران - ۲۰ سرطان :

موسسـه امـداد مهاجرین «انصار» وابسته به سپاه پاسداران انقلاب اسلامي ایران درمشهد،که همواره بامجاهدین ومهاجرین افغانستان کمك ومعاونت مي نماید .

طبق گزارش رادیو تهران ،این موسسـه کمك رساني باانعقاد قرارداد همکاري بابخش امدادي سازمان ملل متحد دراموروافغانستان ، طرحي را روي دست گرفته که براي رفع مشکلات ونیازمندي هاي مهاجرین افغان موثر واقع گردد .

بنابر قرارداد مذکور ، عده اي ازمهاجرین افغان در مشهد ایران وپشاور پاکستان براي خنثي سازي ماین هاي زمیني که مشکل عمده برسرراه بازگشت مهاجران بوطن شان محسوب مي گردد ، آموزش وتربیه مي شوند .

گزارش به نقل ازبخش امور ماین پاکي سازمان ملل متحد مي افزاید که یکي ازعوامل بازدارنده بازگشت مهاجرین افغان بوطن شان را موجودیت هزاران عدد ماین مهلك ومخرب تشکیل مي دهد که سازمان ملل براي نابودي این گونه ماین ها اقدام به تاسیس دفاترجداگانه درپاکستان نموده است .

لازم به یاد آوري است که برنامه مراجعت بیش از (۲٥۰) هزار مهاجرافغان مقیم ایران اززابل ، زاهدان ومشهد ازطریق جمهوري ترکمنستان به همکاري سازمان ملل متحد به افغانستان ، روي دست گرفته شده اماتابحال این عملیه عملي نگردیده است.

دستگاه های استخباراتی امریکا دو بار ازمشتعل شدن جنگ میان هندوپاکستان جلوگیری کرده است

واشنگتن - ۲۰ سرطان :

دریك سروي جدید درارتباط به موفقیت هـاي شبکه هاي استخباراتي امریکا گفته شده کـه دستگاه هاي اطلاعاتي و استخباراتي امریکا حداقل دومرتبه ازبروز جنگ هولناکي میان هند وپاکستان جلوگیري کرده است .

روزنامه نواي وقت چاپ پاکستان به نقل از روز نامه واشنگتن پوست گزارش میدهد کـه ادارات اطـلاعـات مخفي امریکاعلاوه از اینکه ازبروز جنگ میان هندوپاکستان جلوگیري کـرده اسـت ازدسترسي کشور هاي چون پاکستان ، چین، لیبیا، ایران ، عراق وکوریا به سلاح مهلك وکشنده دسته جمعي نیز جلوگیري کرده است .

گزارش درادامه نوشته اسـت : ازموفقیت هـاي دیگـر سازمان هاي استخباراتي امـریکا خنثي نمودن پلان هاي قـتـل بـي نظـیربوتو صدراعظم پاکستان، حسني مبارك رئیس جمهورمصر وجارج بوش رئـیس جمهـور اسبق امریکامیباشد .

علاوه بر آن این ادارات استخباراتي امریکا توانستند از معاهدات تجارتي که براساس رشوت درکشور هـاي چون عربستان سعودي و برازیل صورت مي گرفت جلوگیري نموده واقتصاد کشورهاي چون یوکراین ، کوریاي شمالي ومکسیکو را نیز ازسقوط حتمي نجات داده است .

علاوتاً گزارشات این شبکه ها درمورد نقض حقوق بشر تاثیرعـمده در اتخاذ سیاست خارجي امریکا داشته و مطابق به آن وزارت خارجه امریکاپالیسي خارجي اش را عیار مي نماید .

صدام حسین رئیس جمهور

همه مربوط به دسته محافظین شخصي رئیس جمهورصدام حسین بوده اند وهمه آنها که تعداد شان به (۲٥) تن میرسید دستگیرشده اند .

درادامه گزارش به نقل ازرئیس اسبق دستگاه استخباراتي عـراق کـه اکنون دردمشق پایتخت سوریه بسرمیبرد گفته شده است کـه اکنون هـم تعداد زیادي ازکویتي ها درزندان هاي عراق بسرمیبرند وگاه بیگاه آنها را بـرمحـلات وجاهاي نامعلومي منتقل مي سازند تا سراغي ازآنهابدست نیاید .

امریکا بزرگترین کشور فروشنده اسلحه درجهان می باشد

واشنگتن - ۲۰ سرطان :

امریکادرسال اخـیر بزرگترین کشور صادرکننده وفروشنده اسلحه درجهان بوده است .

طبق گزارش تازه که دراین زمینه داده شده است سهم امریکادر فروش اسلحه به سطح جهاني (٥٦) فیصد بوده ودرسال (۱۹۹٤) بـه ارزش ۲۲ ملیارد دالراسلحه به سایر کشورها فروخته است . حالانکه برتانیه درفروش اسلحه به ارزش ۳/٤ ملیارد دالر درردیف دوم وروسیه به ارزش ۱/۳ ملیارد دالر در ردیف سوم قرارداشته است .

دفاتحی اعلان

حاجي جان نثارخان هوتك، عبدالروف هوتك وورونه ،حاجي شیرین آغاهوتك ، نورآغازهوتك،جـان آغاهوتك ، محمدآغا هوتك ، خان آغاهوتك او عتیق الله هوتك ثامن .

محمدشریف خـان هوتك، دادالرحمن هوتك وریرونه .

دکابل ولایت دده سبز دولسوالي دهردخیلو دقومي مشرحاجي عبدالقدوس هوتك دمړینې له کبله چي جنازه یې پخوا په پلرني هدیره کي خاورو ته سپارل شوي دوستانوته خبرورکوي چي دفاتحې وو فاتحه دجمعي په ورځ دسرطان په ۲۲ نیټه د۸

بجونه تـر ۱۲ بجوپوري دزریاب کالوني دسعید آباد په دوهم نمبر جومات کي دیوي ورځي له پاره اخیستل کیږي .

دفاتحی اعلان

د«IRC» لیسی داووم ټولگی زده کوونکی اروانیاد غلام نبی قایم زاده اودده مور اوپلار الحاج سید رسول دمړینې له کبله چی جنازې پخوا په ووډگر کی خاوروته سپارل شوی دی ټولو دوستانو ته خبر ورکول کیږی چی دفاتحه وو فاتحه دجمعی په ورځ دسهار له «۸» نه تر «۱۱» بجو پوری په آبدره روډ - اولډ بارهٔ روډ په عثمان جومات کی اوددیڅوفاتحه په همدی ورځ دمرحوم غلام نبی دپلار ،عبدالعلی قایم زاده په کور(کوارټر نمبر «٤» اولډ باره روډ افضل آباد) کی اخیستل کیږی .

فاتحه اخیستونکی :

دمرحوم غلام نبی پلار په کابل کی‌دامریکا دتعلیمی هیئت دخدماتو پخوانی آمر اوپه پیښور کی دنبراسکا دتعلیمی اداری دړیور اواوس د «WFP» موسسی دریور عبدالعلی قایم زاده .

په ماتمیانو کی محصل دمرحوم غلام نبی ورور ، سید نبی قایم زاده او ددوی ماما زامن قاضی سلطان محمود صلاح ،داکټر شاه محمود اونوردوستان .

خپل مظلوم ولس ته

موږ د فلسطین په آزادی اوله ټولو اشغال شوو ځمکو څخه د اسرائیلو په وتلو تاکید کوو او دفلسطینیانو د روا مقاومت ملاتړ کوو .

په تاجکستان کی د کورنی جگړی پای ته رسیدل اود برمایی مسلمانانو په خلاف د تشدد او خشونت خاتمه زمونږ د بهرنی سیاست عاجلی غوښتنی دی .

لکه څنگه چی موږ په خپل هیواد کی سوله ، ثبات او استقرار غواړو په دی سیمه اوټوله نړی کی د ثبات او امنیت غوښتونکی یو او له هرهغه حرکت سره مخالفت کو و چی د نورو ملکونو سوله ،امنیت او سیاسی ثبات تهدید کری .

گرانو هیوادوالو!

زه د افغانی ټولنی فرد فرد ته او ټولو هغو ولو او ځواکونو ته چی پر خپل هیواد زړه سوی او پرخپل مظلوم او زوربدلی ولس ترحم اوعاطفه لری او له خدای نه ویریږی ،بلنه ورکوم چی د جگړی د پای ته رسولو او په هیواد کی د تل پاتی سولی د تامین لـه پاره لاس یو کـړی ،د یـوی واقـعـی اسلامی ټولنی د جوړولو له پاره ملا و تړی او د ځوارلس کلن اسلامی جهاد هغه مقدس اهداف ترسره کـړی ، د کوم له پاره چی زمونږ زړ ور ولس یو نیم میلیون شهیدان ورکړی .

په گران هیواد افغانستان کی د سولی د تامین او دمنتخب اسلامی حکومت د جوړیدو په هیله .

اقول قولی هذا استغفرالله لي ولکم والسلام علیکم ورحمة الله وبرکاته